د افـــغانستان کـــرکټ بـــورډ

کلنـــۍ راپـــور
۲۰۲۰

www.cricket.af

OBHAI
TYKA
SS

فهـــــرست

عمومي رييس پيغام
فرهان يوسفزی ۲

د کرکټ عملياتي څانګه ۴

د اجرايه رييس پيغام
رحمت الله قريشي ۲

د غازي امان الله خان جام
ليست اې لوبو سيالۍ ۲۰

کورني کرکټ ۱۴

شپږيزه کرکټ ليګ ۲٦

د کرکټ پراختيا څانګه ۴۰

ښځينه کرکټ ۳٦

د رسنيو څانګه ۵۲

اداري څانګه ۴٦

د بازار موندنې څانګه ٦٦

د انجينيری څانګه ٦۲

د مالي څانګه ۷٦

د معلوماتي ټکنالوژی څانګه ۷۰

راتلونکي کړنې ۸۴

خندونه ۸۲

د افغانستان کرکټ بورډ د عمومي رييس پيغام!

فرهان یوسفزی

> خنګه چې د کرونا ناروغۍ د مخنیوي شرایط زیات پلي کېدل؛ نو په ټوله نړۍ کې يې د کرکټ لوبې هم وځ

۲۰۲۰م کال د ټولې نړۍ لپاره یو غیر معمول کال و، ځکه د کرونا وایروس د کوئیډ۱۹- ناروغۍ په ټوله نړۍ کې ناورین رامنځته کړ. په دې کال کې ټول ټولنیز فعالیتونه لغوه او یا هم د ډېرې مودې لپاره ځنډېدلي و. د ورزش نړۍ هم له دغه قاعدې مستثنا نه وه او د نړۍ ټولې مهمې لوبې يې له خنډ سره مخ کړې وې، چې همدې موضوع ګڼ مالي زیانونه اړوندو ادارو ته رامنځته کړل.

په همدې ترتیب کرکټ چې د نړۍ دوهم په زړه پورې ورزش حیثیت لري، هم د کرونا ویروس له امله اغېزمن شو. په ټوله نړۍ کې د کوئیډ۱۹- ناروغۍ د پراختیا د مخنیوي په خاطر دوه مهم کارونه چې په ۲۰۲۰م کال کې پلان شوي و (د اسیا جام او شل اوریزه نړیوال جام) وځنډول شول. د ملي لوبډلې ورتیا ته په کتو که دا دواړه ټورنمنټونه په لاره اچول شوي وای؛ نو ملي لوبډلې به په دواړو کې ښې لاسته راوني درلودې، خو له بده مرغه دغه لوبې ترسره نه شوې. څنګه چې د کرونا ناروغۍ د مخنیوي شرایط زیات پلي کېدل؛ نو په ټوله نړۍ کې يې د کرکټ لوبې هم وځنډولې او همدې حالت د افغانستان په کرکټ هم خپل سوری خپور کړ او ګڼې کورنۍ او نړیوالې لوبې چې له وړاندې پلان شوې وې، د لوبغاړو د روغتیا ساتنې او د کرونا ناروغۍ د پراختیا د مخنیوي په خاطر وځنډول شوې. په هر صورت مونږ خپل هغه کارونه چې پلان کړي و ترسره کړل او د کرونا ویروسي ناروغۍ پرمهال د ډیرو نورو هیوادونو په پرتله مونږ خپلو پروګرامونو ته ډېر پام وکړ او خپلو سیالیو ته مو دوام ورکړ. زمونږ کورنۍ سیالۍ ژر او په خوندي چاپیریال کې بیا ځلې پیل شوې.

په داسې وضعیت کې، سږ کال د افغانستان کرکټ بورډ ادارې لاسته راوړنې نه درلودې او موږ بریالي شو چې نه یوازې د کرونا ناروغۍ پرمهال د دې ادارې اداري چارې سمبال کړو؛ بلکه د افغان کرکټ د روښانه راتلونکي لپاره مو په تخنیکي او اداري اصلاحاتو کار وکړ. له کومه ځایه چې د کرونا ناروغۍ ګواښونو سره راتلونکی ناڅرګند و، نو د ملي لوبډلې او د کورني کرکټ لوبغاړو جسمي او روحي ساتنه هم باید اړینه ګڼل شوې وای. له همدې امله ټول تخنیکي کارکوونکي د روزونکو په ګډون د لوبغاړو سره په اړیکه کې و؛ ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې لوبغاړي د فزیکي فټنس یا بدني تکړښت کچه ښه ساتي او د کرونا ناروغۍ له اخته کېدو څخه خوندي دي. همدارنګه لا هم د تخنیکي اړخ معیاري کولو لپاره اړتیا ده چې قوي بنسټ ولرو او دې موخې ته د رسېدو لپاره مناسب وخت هغه مهال پیدا شو چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رییس محمد اشرف غني او د افغانستان د کرکټ بورډ عمومي ملاتړ کونکي په کابل کې د نوي کرکټ لوبغالي لپاره د ځمکې ټاکلو او راکولو په خاطر زما غوښتنه ومنله. د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رییس محمد اشرف غني د کابل په الوخیلو سیمه کې د معیاري کرکټ لوبغالي جوړولو لپاره ۱۰۰ جریبه ځمکه په واک کې ورکړه. د کرکټ دغه لوبغالی به په نړیوالو معیارونو جوړ شي او د نړیوالو سیالیو ټولې آسانتیاوې به ولري. سربېره پر دې د رغنده پرمختګونو لپاره ما د افغانستان کرکټ بورډ د ټیکنالوژۍ او معلوماتو څانګې ته لارښوونه وکړه، چې د لوبغاړو د ټاکنې سیستم (AMS) د جوړولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي، چې له بشپړېدو وروسته د لوبغاړو د شفاف او حساب ورکونکې ټاکنې لپاره ډېر اړین دی. همدارنګه په ۲۰۲۰ م کال کې زمونږ له سترو برياوو څخه یوه د ښځینه کرکټ ملي لوبډلې جوړول و. زه باور لرم چې د وخت له اړتیا سره سم، څنګه چې د کرکټ نړیوالې شورا د بشپړ غړیتوب لرلو لپاره د ښځینه کرکټ ملي لوبډلې لرل مهم دي، د دغې لوبډلې د جوړولو او پیاوړي کولو لپاره باید ګامونه واخیستل شي. د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره موږ ۲۵ ښځینه لوبغاړو ته مرکزي قراردادونه ورکړل. اوسمهال دغه ښځینه لوبغاړې د روزنې په پړاو کې دي او ډېر ژر به د لا زیاتې روزنې او سیالیو لپاره د هیواد په استازولۍ بهر ته واستول شي.

د تخنیکي پرمختګ سربېره ما احساس کړه چې د افغانستان کرکټ بورډ اداري جوړښت هم د سیستم رامنځته کولو پروسې دوام او اصلاحاتو ته اغېزمنه اړتیا لري. په همدې اساس د ادارې په مختلفو برخو کې د ټولو اداري څانګو تګلارې بیا وکتل شوې، اړین بدلونونه او اصلاحات پکې راوستل شول.

د دې اصلاحاتو له ډلې یوه ترټولو مهمه لاسته راوړنه د شفاف اداري فرهنګ د ودې لپاره د شکایتونو څانګه رامنځته کول و؛ چې اوسمهال یاده څانګه د افغانستان کرکټ بورډ ډیسپلین کمېټې سره یوځای شوې ده ترڅو د افغانستان کرکټ بورډ ټولې چارې د اړوندو قوانینو، مقرراتو او تګلارو په اساس اداره شي.

پرمهال په بریالیتوب سره د کرکټ لیګ اووم پړاو ترسره کول ښه توګه د هغه مدیریت د افغانستان کرکټ بورډ بله لاسته راوړنه وه. دغه لیګ د افغانستان اسلامي جمهوریت د جمهور رییس محمد اشرف غني ترڅنګ د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح او د حکومت نورو مهمو غړو په حضور کې پرانیستل شو. د شپږیزه کرکټ لیګ اووم پړاو د کرکټ په نړۍ کې لومړنۍ سیالۍ وې چې په لوبغالي کې يې د نسبي ننداره چیانو د پرېښودو اجازه لرله، ځکه چې له ډیرو هڅو وروسته موږ وتوانېدو چې له روغتیايي چارواکو څخه په کابل کرکټ لوبغالي کې د۳۰ سلنه ننداره چیانو د پرېښودو اجازه ترلاسه کړو. د دې لیګ د خپراوي حق د افغانستان ملي راډیو، ټلویزیون (RTA) ته ورکړل شو او په ورته وخت کې موږ د شپږیزې لوبو او د افغانستان غوره لیګ سربېره د ګڼو لوبو د نشر او د لیدونکو پاملرنې راجلبولو ترڅنګ د افغانستان د ملي راډیو، ټلویزیون سره د همکارۍ، سوداګرۍ او ستراتیژیکې ملګرتیا یو تړون لاسلیک کړ. د دې سربېره زمونږ هڅې روانې دي ترڅو په ۲۰۲۱ م کال کې په متحده عربي اماراتو کې د افغانستان غوره لیګ دوهم پړاو لوبې هم ترسره شي. په لنډ ډول که څه هم ۲۰۲۰ م کال د ناڅرګندو خنډونو او ننګونو کال و، خو بیا هم ملي اتلانو او د افغانستان کرکټ بورډ کورنۍ سخت او ډاډمن کار وکړ، ترڅو زمونږ کرکټ او د کرکټ جوړښت پرمخ بوځي او روښانه راتلونکي ته لاره هواره کړي.

د افغانستان کرکټ بورډ خوشبخته ده چې په بورډ کې ښه غړي لري او هڅوي د افغانستان کرکټ او اداري ته خپل وخت او انرژي ورکوي. د ۲۰۲۰م کال سیزن د کوئیډ۱۹- ناروغۍ له امله ډېر پې اعتباره او په نامعلوم حالت کې و چې له امله یې نه یوازې یې په افغانستان بلکه په ټوله نړۍ کې یې د کرکټ لوبې په شمول ټول سپورتي فعالیتونه په ټپه درولي ول. مونږ د ګواښونو او ستونزو څخه په ډک حالت کې قرار درلود چېرته چې ټولو ستونزو او د افغان ولس هیلو ته د رسېدل د بورډ د غړو له مرستې او لاسنیوي پرته ناشوني ول.

له ټولو ستونزو او ګواښونو سره سره د افغانستان کرکټ بورډ په ۲۰۲۰م کال کې لاسته ځینې راوړنې درلودې. د افغانستان کرکټ بورډ د ټولو ستونزو سره سره خپل ډېر شمېر پلان شوي فعالیتونه سر ته ورسول او د کرکټ په برخه کې یې د افغانستان کرکټ بورډ تخنیکي او اداري برخه لا زیاته ځواکمنه کړه. په یادو فعالیتونو کې د کورني کرکټ او د لوبې د ټولو بڼو (فرسټ کلاس، لومړۍ، دویمه او دریمه درجه سیالۍ، او د معیوبیت لرونکو لوبغاړو سیالۍ) پراختیا، په لوړه کچه او کیفیت د اووم پړاو شپږیزه کرکټ لیګ او د لومړي ځل لپاره په کندهار ولایت کې د غازي امان الله خان لیسټ اې سیالیو ترسره کول شامل ول چې د افغانستان کرکټ بورډ د پرمختګ ښکارندویي کوي.

د افغانستان کرکټ بـورډ د اجراییه رییـس پیغام!

رحمت الله قریشي

> د لوبډلو د ټاکلو لپاره پراخه او جامع تګلاره جوړه شوه چې د کمپیوټر په مټ د راټولو شویو معلوماتو په اساس به د لوبډلو ټاکته کیږي. دغه سیسټم چې د لوبغاړو د مدیریت سیسټم نومیږي، د دې لپاره جوړ شو چې په مرسته یې د لوبغاړو ټاکنه د کارکردګۍ، فیټنیس او ډسپلین په اساس ترسره کیږي.

له بلې خوا افغانستان کرکټ بورډ په دې هڅه کې و چې په نړیواله کچه د خپلو راتلونکو سفرونو پروګرام ته له بېلابېلو بشپړ غړیتوب لرونکو هیوادونو سره نورې سیالۍ هم اضافه کړي، خو د کوئیډ۱۹- ناروغۍ له امله دا ناشونې وه چې په ۲۰۲۰م کال کې نورې نړیوالې سیالۍ خپلو پروګرامونو ته ور اضافه کړو. له دې سره سره د افغانستان کرکټ بورډ وتوانېد چې له آسترالیا هیواد سره یوه ټیسټ لوبه برابره کړي چې د ۲۰۲۱م کال په نومبر میاشت کې به په آسترالیا کې ترسره شي، ان شاءالله. همدارنګه د افغانستان کرکټ بورډ غړو په آنلاین بڼه د کرکټ نړیوالو او آسیایي شورا ګانو په ناستونو کې پراخه ونډه درلوده. د دې ترڅنګ د افغانستان کرکټ بورډ او د افغانستان ملي راډیو تلویزیون ترمنځ لس کلن ستراتیژیک تړون هم لاسلیک شو.

له مدیریت او اداري پلوه د افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۱۹م کال په پرتله په ۲۰۲۰م کال کې ښه اقتصادي حالت خپل کړی و. په ورته وخت کې هرې څانګې په انفرادي ډول د خپلو کړنو او د ۲۰۲۱م کال فعالیتونو په اړه بشپړ پلانونه چمتو او وړاندې کړل چې په همدې کال کې د ټولو راتلونکو پروګرامونه په ملایمه او مؤثره توګه مخته یوسي. په همدې موخه د افغانستان کرکټ بورډ د هرې څانګې لپاره د ۲۰۲۱م کال کلنی کاري پلانونه جوړ شول چې ترڅنګ یې د کرکټ بورډ د عملیاتي څانګې مېنول هم برابر شو. د دې ترڅنګ د هرې څانګې د فعالیتونو د ارزیابۍ په موخه د ۲۰۲۰م کال فعالیتونو ته بیا ځلې کتنه وشوه چې د راتلونکي کال ټول پلانونه هم پکې شامل ول.

په بنیادي او زیربنایي برخه کې د افغانستان جلالتمآب ولسمشر په کابل ولایت کې د یوه نړیوال کرکټ لوبغالي د ودانۍ لپاره د ۱۰۰ جریبه ځمکې منظوري ورکړه. د افغانستان کرکټ بورډ یاده پروسه له نږدې څارله چې یاده ځمکه به په نږدې راتلونکي کې د افغانستان کرکټ بورډ اداري ته وسپارل شي. په ننګرهار ولایت کې د شهید نجیب الله تره کي لوبغالي کرکټ لوبغالي د رغولو اسناد او پروسه بشپړه شوې ده او ټاکل شوې ده چې په نږدې راتلونکي کې یې د چهاردیوالۍ او د کرکټ لوبغالي د رغولو چارې پیل شي. د کندهار ولایت د مېلمستون د رغولو چارې بشپړې شوي دي او د خوست کرکټ لوبغالي ډیزاین جوړ شوی دی.

د لوبډلو د ټاکلو لپاره پراخه او جامع تګلاره جوړه شوه چې د کمپیوټر په مټ د راټولو شویو معلوماتو په اساس به د لوبډلو ټاکته کیږي. دغه سیسټم چې د لوبغاړو د مدیریت سیسټم نومیږي، د دې لپاره جوړ شو چې په مرسته یې د لوبغاړو ټاکنه د کارکردګۍ، فیټنیس او ډسپلین په اساس ترسره کیږي. د دغه سیسټم په مرسته به لوبغاړي د وړتیا په اساس ټاکل کیږي چې له ځوانو لوبغاړو سره به د هغوی په پرمختګ کې ډېره مرسته وکړي.

په ورته وخت کې مونږ د ... ستونزې هم درلودې چې ... د عمومي مالي ملاتړ نشتون، د روزنځایونو کموالی او محدودیت او د کورنیو او بهرنیو سیالیو لپاره مسلکي روزونکو او لوبڅارانو نشتون پکې شامل ول. دا چې افغانستان کرکټ بورډ په افغانستان کې د نورو هیوادونو کوربتوب نشي کولای نو له همدې امله مونږ خپلې نړیوالې سیالۍ په متحده عربي اماراتو او هندوستان کې ترسره کوو. د ۲۰۲۰م کال په جریان کې د افغانستان کرکټ بورډ اداره د عربي اماراتو د ویزو په ترلاسه کولو کې له ډېرو ستونزو سره مخ وه چې له امله یې د لوبډلې کارکردګي هم اغېزمنه شوې وه. ۲۰۲۰م کال په یوه ښه خبر سره پای ته ورسېد چې پکې راشد خان د تېرې لسیزې د غوره لوبغاړي جایزه خپله کړه. راشد خان له نورو لوبغاړو سره په څنګ کې یوځای هیواد او هیوادوالو ته د خوښیو او ویاړونو راوړلو ته دوام ورکوي.

له تېر وخت څخه په پوره زده کړې سره، مونږ هڅه کوو چې د افغانستان کرکټ بورډ اداره لا زیاته مؤثره او له نړیوالو معیارونو سره برابره شي چې هم خپل فعالیتونه ښه کړي او هم هیوادوالو ته د غوره کرکټ وړاندې کړي. مونږ په پام کې لرو چې ځوانانو ته لا زیاتې موقع برابرې کړو او هغوی ته د خپلې کارکردګۍ په اساس په ملي لوبډله کې د لوبېدو زمینې مساعدې کړو ترڅو د راتلونکو سترو سیالیو ته ښه او قوي لوبډله ولرو.

د کـــــرکټ عملیاتــــي څانګه

د افغانستان کرکټ بورډ کرکټ عملیاتي څانګه د افغانستان کرکټ بېلابېلو ملي لوبډلو لکه ملي، الف، ایمرجنګ او د نولس کلنو ملي لوبډلو لپاره د نړیوالو سفرونو او سیالیو د جوړولو او برابرولو مسؤلیت لري. دغه څانګه د نړیوالو سفرونو او پروګرامونو په جریان کې د ملي لوبډلو لوجستیکي، تخنیکي او اداري اړتیاوې پوره کوي او د ویزو په ګډون یې نور کاغذي کارونه یې هم پر مخ وړي.

نړیــوال کـــرکټ

۲۰۲۰م کال د کوئیډ-۱۹-ناروغۍ له امله په بدترین ډول سره وځپل شو چې له امله یې د نړۍ د کرکټ ټولې اداري احتیاطي تدابیر ونیول او مجبور شول چې خپلې ټولې پلان شوې چارې په ټپه ودروي او یا یې بل وخت ته وځنډوي. که څه هم د کال په وروستیو کې کرکټ نړۍ خپلې چارې (سیالۍ) د اړونده هیوادونو د صحي ادارو لخوا د سختو احتیاطي محدودیتونو په وضع کېدلو سره بیا ځلې پیل شوې. دغه سیالۍ په خالي لوبغالو کې پیل شوې او هیڅ نندارچیانو په لوبغالي کې د سیالیو د ننداري اجازه نه درلوده.

د افغانستان کرکټ ملي لوبډله

لکه څنګه چې پورته یاده شوې ده، نړیوال کرکټ په ۲۰۲۰م کال د کوئیډ۱۹- ناروغۍ له امله وځپل شوه چې له امله یې ډېر شمېر لوبلړۍ او نړیوال ټورنمنټونه یا لغوه شول او یا هم نا معلومو نېټو ته وځنډول شول. دغې ناروغۍ نه یوازې دا چې په نړیواله کچه د راتلونکو سیالیو او سفرونو په پروګرام کې افغانستان سیالۍ وځنډولې بلکه د افغانستان کرکټ بورډ پلان شوې لوبلړۍ یې هم وځپلې.

خو د دې ستونزو سره سره د کرکټ عملیاتي څانګې په ۲۰۲۰م کال کې لاندې فعالیتونه ترسره کړل.

د کرکټ نړیوالې شورا په کرکټ اکاډمۍ کې د ملي لوبډلې د مهارتونو او فیټنیس د لوړتیا کیمپ

د دې لپاره چې لوبغاړي مصروف وساتل شي، د افغانستان کرکټ بورډ د خپلو ملي لوبغاړو لپاره د همدې کال په جنورۍ میاشت کې په متحده عربي اماراتو کې د کرکټ نړیوالې شورا په روزنځای کې د مهارتونو لوړولو او فیټنیس کیمپ په لاره واچولو. دغه کیمپ د مشر روزونکي لانس کلوزنر په مشرۍ ترسره شو چې یې د لوبغاړو په مهارتونو او په فیټنیس ښه اغېزه درلوده.

د افغانستان او ایرلینډ ترمنځ سیالۍ او تمریناتي کیمپ (ګرېټر نویډا)

ټاکل شوي وه چې د کرکټ نړیوالې شورا اړوند شل اوریز نړیوال جام سیالۍ د ۲۰۲۰ کال په اکتوبر میاشت کې د آسټرالیا په کوربتوب ترسره شي. نو د دغو سترو سیالیو لپاره د لا ښه چمتووالي په موخه د افغانستان کرکټ بورډ په دریو پړاوونو کې تمریناتي کیمپ په لاره واچولو چې لومړی هغه یې د هند په ګرېټر نویډا کې ترسره شو. دغه کیمپ د ۲۰۲۰م کال د فبرورۍ میاشتې په شلمه نېټه، د ایرلینډ په وړاندې له سیالیو ۱۵ ورځې وړاندې پیل شو چې اصلي موخه یې د همدې کال آسیا کپ او شل اوریز نړیوال جام ته د لوبغاړو د مهارتونو او فیټنیس لوړول وه. دغه سیالۍ د ملي لوبغاړو په وړتیاوو ښه اغېزه وکړه چې په پایله کې یې د ایرلینډ لوبډلې ته ۱-۲ ماتې ورکړه.

د تمریناتو بیا ځلې پیل – د ملي لوبډلې تمریناتي کیمپ – د جون له شپږمې څخه د جولای تر شپږمې

د ایرلینډ په وړاندې د سیالیو له بشپړېدو وروسته ملي لوبډلې د کوئید۱۹- ناروغۍ له امله نور نړیوال کرکټ ونشو کړای. د دې ترڅنګ دا هم ممکنه نه وه چې د ملي لوبغاړو لپاره په کابل او یا نورو ولایتونو کې روزنیز او تمریناتي کیمپونه په لاره واچوو ځکه چې په هیواد کې د زیاتو مثبتو پېښو ثبتېدو له امله د مارچ میاشتې په ۲۵مه نېټه په ټول هیواد کې ګرځبندیزونه وضع شول. دا چې د ګرځبندیزونو موده نامعلومه وه نو په ډېلیزه توګه ورزشي فعالیتونو ته هم اجازه نه ورکول کېده، نو له همدې امله ټول لوبغاړي مجبور شول ترڅو په خپلو کورونو کې د خپل فیټنیس ساتلو په موخه تمرینات ترسره کړي. دا چې په همدې کال کې د ملي لوبډلې دوه ستر ټورنمنټونه پلان شوي ول، نو دا لازمي وه چې باید لوبغاړي د راتلونکو سیالیو لپاره د چمتووالي لرلو په موخه په تمریناتو او د کرکټ په فعالیتونو کې ځانونه مصروف وساتل شي. د همدې لپاره له حکومت څخه د اجازې ترلاسه کولو وروسته د افغانستان کرکټ بورډ یو میاشتنی تمریناتي کیمپ ترسره کړ چې پکې د ناروغۍ څخه د مخنیوي په موخه ټول احتیاطي تدابیر په پام کې نیول شوي ول.



د جون له ۱۵مې څخه د جولای تر ۱۱مې نېټې پورې د ملي لوبډلي (ټیسټ نوملړ) تمریناتي کیمپ

ټاکل شوي وه چې د افغانستان او آسټرالیا د کرکټ ملي لوبډلو ترمنځ په آسټرالیا کې د یوه ټیسټ لوبه ترسره شي. د همدې لپاره پکار وه چې د افغانستان ټیسټ کرکټ لوبډله مصروفه وساتل شي ترڅو د یادي سیالۍ لپاره چمتو وساتله شي. په همدې موخه د جون د میاشتې په ۱۵مې نېټې څخه د جولای میاشتې له تر ۱۱مې نېټې پورې ترسره شو چې له هغه وروسته بیا د جولای میاشتې په ۲۳مه، ۲۵مه او ۲۷مه نېټه درې یوورځنۍ تمریناتي سیالۍ هم ترسره شوې.

د نومبر له دریمې څخه د ډیسمبر تر دویمې پورې د ملي لوبډلي تمریناتي کیمپ

د کوئیډ۱۹- ناروغۍ ملي لوبغاړي له کرکټ او اړونده فعالیتونو څخه د اوږدې مودې لپاره لېرې وساتل. له همدې امله په ۲۰۲۱م کال کې د راتلونکو سیالیو لپاره د ښه چمتووالي په موخه د ۴۵ لوبغاړو لپاره د کابل په کرکټ لوبغالي کې د نومبر په دریمه تمریناتي کیمپ په لاره واچول شو چې یوه میاشت دوام یې وکړ او د ډسمبر میاشتې په دویمه نېټه پای ته ورسېد. دا چې هوا ډېره سړه شوه نو د لوبغاړو شمېر ۲۰ ته راښکته شو او تمریناتو هم په سرپټي اکاډمۍ کې دوام ومونډ. دغه کیمپ خورا ښه ترسره شو او په عربي امارتو کې یې د راتلونکي پلان شوي کیمپ لپاره د لوبغاړو په ښرته جوړولو کې رغنده رول ولوبولو.

د ځوانانو ملي لوبډلي

کوئیډ۱۹- ناروغۍ د ملي لوبډلي سربېره د نولس کلنو، الف او ایمرجنګ لوبډلو پروګرامونه هم ځپلي ول چې یا باید لغوه شوي وای او یا هم باید نورو نېټو ته ځنډول شوي وای.

د نولس کلنو لوبغاړو تمریناتي کیمپ او د ۲۰۲۰م کال نولس کلنو لوبغاړو نړیوال جام

د ۲۰۲۰م کال نولس کلنو لوبغاړو نړیوال جام سیالۍ د جنورۍ او فبرورۍ په میاشتو کې په سویلي افریقا کې ترسره شوې. د سیالیو ظرفیت، دروندوالي او لوی والي ته په کتو، د افغانستان کرکټ بورډ د افغان لوبډلي د چمتووالي په موخه په کابل کې د ۲۰۱۹م کال د ډیسمبر میاشتې له اتلسمې نېټې څخه تر ۲۸مې نېټې پورې تمریناتي کیمپ په لاره واچولو. له دې وروسته له هوا سره د بلدېدو او لا زیاتو تمریناتو په موخه دویم لس ورځنی کیمپ د سویلي افریقا په پوچیفسټروم کې د جنورۍ له اولې څخه تر ۹مې پورې ترسره کړ. دغو تمریناتي کیمپونو نړیوال جام ته د لوبغاړو په تیارولو کې مهمه ونډه درلوده. د لوبډلي عمومي کارکردګي هم رضایت بخشه وه چې پکې افغان لوبډلي په یادو سیالیو کې اووم مقام خپل کړ.

د ایمرجنگ لوبډلې ټاکنیز او د نولس کلنې لوبډلې د ظرفیت لوړونې کیمپ

د ۵۰ ایمرجنگ لوبغاړو لپاره ټاکنیز او د ۲۲ نولس کلنو لوبغاړو لپاره د ننگرهار ولایت په جلال آباد کې ترسره شو. دغه کیمپ داسې جوړ شوی و چې د تمریناتي سیشنونو ترڅنگ پکې د ایمرجنگ او نولس کلنو لوبډلو ترمنځ تمریناتي سیالۍ هم ترسره شوې. د ۴۲ لوبغاړو څخه د دریو غوره شویو دریو لوبډلو ترمنځ د ٦ خپلمنځني سیالیو او د نولس کلنې لوبډلې په وړاندې د ایمرجنگ لوبډلې ۵ سیالیو وروسته د ملي ایمرجنگ لوبډلې لپاره وروستی ۲۰ کسیز نوملړ وټاکل شو. د یاد کیمپ په دوران کې د نولس کلنو لوبغاړو لپاره یو پرمختیایي کیمپ هم په لاره اچول شوی و. د کیمپ لومړی ورځې په مشخصه توگه د روزنې او تمریناتو لپاره مختصې شوې وې چې له هغه وروسته یې د ملي ایمرجنگ لوبډلې په وړاندې ۵ یوورځنۍ تمریناتي سیالۍ ترسره کړې.



د کوئیډ-۱۹ ناروغۍ له امله لغوه شوې سیالۍ

کوئیډ-۱۹ ناروغۍ په نړیواله کچه د کرکټ فعالیتونه ډېر وځپل، افغانستان هم له یاد ستونزو څخه مستثنا نه و او د بېلابېلو ملي لوبډلو ډېر شمېر سیالۍ یې لغو او وځنډول شوې. لاندې هغه سترې سیالۍ او روزنیز کیمپونه دي چې د کوئیډ-۱۹ ناروغۍ تر اغېزې لاندې راغلل:

- د اپرېل له اولې څخه تر ۲۲مې نېټې پورې د ملي لوبډلې تمریناتي کیمپ
- د نړیوال جام لپاره د تمریناتو دویم پړاو، چې ټاکل شوې وه د سویلي افریقا په پوچفسټروم کې د جون له ۵مې څخه تر ۲۰مې نېټې پورې ترسره شي.
- په مې میاشت کې سرلانکا هیواد ته د افغان الف لوبډلې سفر
- په جون میاشت کې د زمباوې په وړاندې د افغان ملي لوبډلې تمریناتي کیمپ او سیالۍ

کورني کرکټ

۲۰۲۰م کال د نورو کلونو په پرتله د کرونا ناروغی له امله د کرکټ لپاره یو ننګونکی کال و، په یاد کال کې د کرکټ ټولې لوبې وځنډول شوې چې په دې ځنډول شویو لوبو کې کورنی کرکټ هم شامل و او ټولې هغه لوبې چې د کورني کرکټ ځانګې د ۲۰۲۰م کال لپاره په لاره اچولې وې وځنډېدې. په ورته وخت کې، د کرونا ناروغی په ختمېدو سره د روغتیایي چارواکو په تائید ځینې لوبې پیل شوې.

د ښو او با کیفیته سیالیو په دایرولو سره د کرکټ رقابتي ماحول ساتل او د اړینو معیارونو او اسانتیاوو درلودو سره د کورني کرکټ لپاره د پیاوړي بنیاد جوړول چې د غوره لوبغاړو په تولید کې مرسته وکړي.

د زونونو او ولایتونو په کچه د بېلابېلو عمر لرونکو لوبغاړو لپاره د سیالیو دایرول تر څو د مسلکي او تخنیکي کارکونکو تر څارنې لاندې یې اړین مهارتونه وده وکړي.

د لا پرمختګ لپاره له شته سرچینو څخه په سمه توګه ګټه اخیستل او په ټولیزه توګه د پام وړ پایلې ترلاسه کول.

کورني کرکټ

که څه هم د ۲۰۲۰م کال لپاره د کورني کرکټ په مهالوېش کې ډېر فعالیتونه پلان شوي و؛ خو د کرونا ناروغی له امله له څنډ سره مخ شول، په هر حال وروسته له دې چې روغتیايي چارواکو ورزشي لوبو ته د بیا فعالیت اجازه ورکړه، نو د کورني کرکټ څانګې وکولی شول چې ځینې لوبې ترسره کړي. ځینې مهمې سیالۍ چې په ۲۰۲۰م کال کې کورني کرکټ څانګې لخوا ترسره شوي:

ځینې مهمې سیالۍ چې په ۲۰۲۰م کال کې کورني کرکټ څانګې لخوا ترسره شوي:

دریمه درجه ولایتي سیالۍ

د وزیر محمد اکبر خان دریمه درجه ولایتي یو ورځنۍ سیالۍ د ۲۰۲۰م کال د فبرورۍ میاشتې په لومړۍ نېټه پیل او د همدې میاشتې په ۱۳مه نېټه پای ته ورسېدې. د شلو ولایتونو لوبډلو په پنځو ګروپونو کې له یو بل سره لوبې وکړې او له هر ګروپ څخه دوو لوبډلو دویمه درجه سیالیو ته لار پیدا کړه.

دویمه درجه ولایتي سیالۍ

د وزیر محمد اکبرخان دویمه درجه ولایتي سیالیو کې ۱۶ لوبډلو ګډون درلود، چې یادو سیالیو ته لسو لوبډلو له دریمه درجه ولایتي سیالیو څخه لاره مونډلې وه او شپږ لوبډلې د تیر کال دویمه درجه ولایتي لوبو څخه په یادو سیالیو کې شتون درلود. دغه سیالۍ د ننګرهار او خوست ولایتونو په لوبغالو کې ترسره شوې. چې ۱۶ لوبډلې په څلورو ګروپونو وویشل شوې او له هر ګروپ څخه یوې-یوې غوره لوبډلې د هیواد په کچه لومړۍ درجه سیالیو ته لار پیدا کړه.

کورني کرکټ

د ولايتي سترې سيالۍ

لومړۍ درجه ولايتي سيالۍ (ايليټ جام)

ټاکل شوې وه چې لومړۍ درجه سياليو (ايليټ جام اتلولۍ) د مارچ مياشتې په لومړۍ نېټه پيل شي، خو د کرونا وايروس له امله وځنډېدې. د دې لپاره چې يادې سيالۍ د کوئيډ-۱۹ ناروغۍ له ټولو خطراتو څخه پرته ترسره شي نو د کورني کرکټ ځانګړي يو ځانګړی ټيم تيار کړ ترڅو د عامې روغتيا وزارت اړوند ټولې لارښوونې په ټولو ګډون کوونکو لوبډلو باندې پلې کړي. دغه سيالۍ د ۸ لوبډلو ترمنځ د خوست ولايت په ۲ لوبغالو کې ترسره شوې. يادې ۸ لوبډلې په ۲ ګروپونو ووېشل شوې او له هر ګروپ څخه دوه لوبډلو نيمه پايلوبو ته لاره ومونده. يادې څلور لوبډلې به د راتلونکي کال لومړۍ درجه سياليو کې هم شاملې وي، په داسې حال کې چې پاتې څلور لوبډلې بايد د راتلونکي کال دويمه درجه سياليو کې ګډون وکړي.

له ۱۶ کلنو څخه کم عمره لوبغاړي او ازمايښتي لوبې

د ۲۰۲۰م کال د جولای مياشتې په ۱۶مه نېټه د کورني کرکټ د غوره ۱۶ کلنو لوبغاړو لپاره يو روزنيز کمپ پيل کړ چې د همدې مياشتې تر ۲۸مې نېټې پورې يې دوام وکړ. ياد کمپ په ننګرهار ولايت کې ترسره شو چې پکې ۳٦ تنه هغه لوبغاړو چې د تېر کال ۱٦ کلنو څخه کم عمره لوبغاړو ترمنځ سياليو کې يې ښې کارکردګۍ ترسره کړې وې، ګډون درلود. له ياد کيمپ څخه ۲۰ تنه غوره لوبغاړي د راتلونکو ۱۷ کلنو لوبغاړو کيمپ ته غوره شول.

د ۱۷ کلنو غوره لوبغاړو تمريناتي کمپ او سياليې

په ننګرهار ولايت کې د کورني کرکټ د ۱۷ کلنو څخه کم عمره لوبغاړو کمپ د ۲۰۲۰م کال د اګسټ مياشتې له ۱۷مې نېټې څخه تر ۳۱مې نيټې پورې ترسره شو. د ياد کمپ اصلي هدف د ۱۹ کلنو څخه کم عمره لوبډلې ته د غوره ملاتړو لوبغاړو موندنه وه. په ياد کمپ کې ۳۴ لوبغاړو ګډون درلود چې د دوی له منځه ۲۰ لوبغاړي د ۱٦ کلنو لوبغاړو له کيمپ او ۱٦ نور لوبغاړي د ۱۷ کلنو لوبغاړو له کمپ څخه، چې تېر کال ترسره شو، ټاکل شوي ول.

د غازي امان الله خان جام لیسټ لوبو سیالۍ

د زونونو په کچه د غازي امان الله خان لیسټ اې سیالۍ د ۲۰۲۰م کال د اکتوبر له ۱۰مې نېټې څخه د همدې میاشتې تر ۲۲ مې نېټې پورې ترسره شوې. دغه سیالۍ څکه د افغانستان کرکټ بورډ لپاره حیاتي ارزښت لري چې د بېلابېلو ملي لوبډلو لپاره پکښې تکړه لوبغاړي په لاس ورځي. دغه سیالۍ د لومړي ځل لپاره د کندهار ولایت په کرکټ لوبغالي کې ترسره شوې، چېرته چې هرې لوبډلې لپاره د سیالیو څخه وړاندې شپږ ورځنۍ تمریناتي کمپ دایر شوی و.

د غازي امان الله خان لیسټ ای لوبو د ډېرو منډو جوړونکي

Player	Mat	Inns	NO	Runs	HS	Ave	SR	100	50
(Rahmat Shah (MEA	6	6	1	257	78	51.40	73.21	0	2
(Darwish Rasooli (BEA	5	5	1	243	*106	60.75	76.89	1	2
(Javed Ahmadi (Amo	5	5	1	235	*125	58.75	95.91	1	1
(Rahmanullah Gurbaz (MEA	6	6	0	226	128	37.66	100.44	1	1
(Abdul Malik (Amo	5	5	3	159	107	79.50	72.93	1	0

د غازي امان الله خان لیسټ ای لوبو د ډېرو ویکټو اخېستونکي

Player	Mat	Inns	Mdns	Runs	Wkts	BBI	Ave	Econ	SR	5w
(Zahir Khan (MEA	6	6	6	246	13	27/3	18.92	4.47	25.3	0
(Sharafuddin Ashraf (Amo	5	5	4	196	11	29/5	17.81	4.00	26.7	1
(Amir Hamza (BEA	5	5	15	115	10	10/3	11.50	2.34	29.4	0
(Zia-ur-Rehman (MEA	4	4	5	112	10	26/5	12.20	3.58	20.4	1
(Haseebullah (MEA	5	5	0	227	10	39/5	22.70	6.24	21.8	1

دکندهار ولایت لوبغالي کې د یاد جام اتلولي د مس عینک لوبډلې وګټله او وتوانېدل چې د لوبو پای لوبه کې د آمو لوبډلې ته د ۷ ویکټو په توپیر ماته ورکړي.

د زونونو په کچه د کلبونو اتلولۍ جام

یادي سیالی د خوست ولایت په لوبغالي کې د ۲۰۲۰م کال د ډسمبر له ۲۰مې نېټې څخه تر یو دېرشمې نېټې پورې د ۵ زونونو د غوره کلبونو تر منځ ترسره شوې.

د زونونو په کچه د معلولیت لرونکو لوبغاړو لوبېدیرو منډو جوړونکي

دغه سیالۍ د کابل ولایت په لوبغالي کې د پنځو زونونو د معلولیت لرونکو لوبډلو ترمنځ د ۲۰۲۰م کال د اکتوبر له شپږمې نېټې څخه تر ۱۳مې نېټې پورې ترسره شوې. په هره لوبډله کې د معلولینو ملي لوبډلې څلور لوبغاړو برخه اخیستې وه چې د یادو سیالیو په پایلوبه کې د سپین غر زون معلولینو لوبډلې د بُست زون معلولیت لرونکو لوبډلي ته ماته ورکړه او د یادو سیالیو اتلولي یې وګټله.

شپـــــــــــړیزه کرکټ لیـــــــګ

د افغانستان د کورني کرکټ په چوکاټ کې شپږیزه کرکټ لیګ د خلکو د خوښې لیګ دی چې په ۲۰۱۳ زیږدیز کال کې رامنځ ته شو او هر کال دا لیګ ترسره کیږي او ډېر لیدونکي لري . شپږیزه کرکټ لیګ د پیل له لومړۍ ورځې دا ثابته کړه، چې د کورني کرکټ په وده کې مهم رول لوبولی شي.

سره له دې چې کرکټ په افغانستان کې د خلکو د خوښې لوبه وه او ورځ تر بلې د پرمختګ په حال کې وه، خو شپږیزه کرکټ لیګ کې د ملي لوبغاړو لوبېدو او د هغوی ښو لوبو او ځوانو لوبغاړو ګډون وشوه کړای چې دغه لیګ په شور، مستۍ او د خلکو په لا ډېرې خوښۍ بدل کړي.

یاد لیګ په افغانستان کې ډېر استعدادونه رابرسېره کړي دي او د پرمختګ باعث یې شوی دی او له همدې لیګ څخه ډېرې ځوانانو د نورو هېوادونو په لیګونو کې د لوبېدو فرصت هم ترلاسه کړی دی.

د افغانستان کرکټ بورډ تل د لیګ په سټنډرډ او ښه والي تاکید او غور کړی دی او ددې ترڅنګ یې د دغه لیګ د پرمختګ او فرهنګ ژوندي ساتلو په موخه له هراز لارو چارو کار اخیستی او له هېڅ کار څخه یې مخه نده ګرځولې.

همداراز دغه لیګ د کارکونکو، تخنیکي اشخاصو، روزنکو، لوبغارانو او نمره شمېرونکو د پرمختګ او تجربو زیاتوالي باعث ګرځېدلی دی.

شپږیزه کرکټ لیګ یو تجارتي لیګ دی چې پکې د زونونو او مرکز په استازیتوب شپږ لوبډلې لوبیږي.

Amo Sharks

Band–e Amir Dragons

Bost Defenders

Mis–e Ainak Knights

Kabul Eagles

Bost Defenders

د شپږیزه کرکټ لیګ اوم پړاو سیالۍ د ۲۰۲۰ زېږدیز کال له شپږمې نېټې تر شپاړسمې نېټې پورې په کابل کرکټ لوبغالي کې ترسره شوې. شپږیزه کرکټ لیګ لومړنی ورزشي لیګ و چې د افغانستان د عامې روغتیا وزارت او د کرکټ نړیوالې شورا ټولو اصولو ته په پام کې نیولو سره د مینوالو او ننداره چیانو په شتون کې د کرکټ په ډګر کې ترسره شو. ټاکل شوې وه چې دغه لیګ د ۲۰۲۰ زېږدیز کال په مارچ میاشت کې ترسره شوی وای خو د کرونا خطرناک ویروس له امله ځنډېدلی و، خو د افغانستان کرکټ بورډ سره د کرونا ویروس له اندیښنو سره په ډېره کمه موده کې په دې بریالی شو چې یاد لیګ په معیاري توګه ترسره کړ او ټاکل شوې موخې یې لاسته راوړې. د افغانستان حکومت، د کرونا ویروس پروړاندې د مبارزې کمېټې او عامې روغتیا وزارت یوازې ۳۰ سلنه خلکو ته د لوبو پرمهال لوبغالي ته د ننوتلو اجاز ورکړې وه. د افغانستان کرکټ بورډ د کرونا ویروس پروړاندې د مخنیوي ټولې لازمې لارې چارې په سمه توګه پلي کړې او د لیګ په جریان کې یوه مثبته پېښه هم د ادارې د کارکوونکو او لوبغاړو ترمنځ ثبت نشوه. په همدې موخه د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رئیس ښاغلي فرهان یوسفزي یوه کمېټه رامنځ ته کړې وه چې ترڅو ټولې چارې منظمې او ښې مخې ته یوسي او د هر پرمختک راپور شریک کړي، څکه چې د کرکټ مینوال د کرکټ لیدو ته سخت په تمه او تږي ول.

لکه څنګه چې پورته مو وویل چې شپږیزه کرکټ لیګ یو تجارتي لیګ دی نو څکه مو د شپږ واړه لوبډلو د امتیاز حق اعلان کړ، چې د شپږ لوبډلو له ډلې یې پنځه وپلورل شوې او یوازې یوه د بست لوبډله پاتې شوه او په پایله کې ددغې لوبډلې مالي حمایت او مدیریت د افغانستان کرکټ بورډ ترسره کړ.

ډیلي فریش انټرنیشنل
(بند امیر ښاماران)

حضرت لمبټېر
(مس عینک اتلان)

نوید احمدزي
(امو نهنګان)

د ذغال سنګ اتحادیې سوداګر،
افغانستان اکټو (سپین غر زمریان)

ایوبي سپورټ کمپلیکس
(کابل بازان)

د افغانستان کرکټ بورډ
(بست ساتونکي)

د ایوبي کابل بازانو لوبډلې د شپږیزه کرکټ لیګ په اوم پړاو کې د **<u>رحمان الله ګربز</u>** په لوبډلمشرۍ په پایلوبه کې د مس عینک اتلانو لوبډلې ته له ماتې وروسته د اتلولۍ جام وګاټه.

همدا راز د اوم پړاو شپږیزه کرکټ لیګ پروډکشن په کیفیت کې د ښه والي ترڅنګ د کمرو په شمېر کې هم زیاتوالی راغلی و او د ګرافیک او ډیزاین په برخه کې هم نوښتونه رامنځ ته شوي ول چې د مینوالو او لیدونکو د خوښې وړ وګرځېدل.
په اوم پړاو شپږیزه کرکټ لیګ کې یوه مهم ټکی چې و هغه دا و چې د پرانیستې په مراسمو کې جلالتمات ولسمشر محمد اشرف غني او نورو لوړ رتبه دولتي چارواکو لکه د ولسمشر لومړي مرستیال ښاغلی امر الله صالح ، د مشرانو جرګې رئیس ښاغلی فضل الهادي مسلمیار او داسې نورو ګډون کړی و چې د افغانستان د کرکټ بورډ له عمومي رئیس ښاغلي فرهان یوسفزي له لوري یې تود هرکلی وشو. په دې پروسه کې جلالتماب ولسمشر محمد اشرف غني د افغانستان کرکټ بورډ د مشرتابه د هڅو غوښتنې په اړه هم د ژمنې اعلان وکړ چې په کابل کې د یو نړیوال معیاري لوبغالي لپاره د ځمکې ورکړه وه.

د شپږیزه کرکټ لیګ د اوم پړاو د لوبغاړو د پېر مراسم

د شپږیزې د اوم پړاو د لوبغاړو د پېر مراسم د ۲۰۲۰ زېږدیز کال د اګست میاشتې په ۲۰مه نېټه د افغانستان د کرکټ بورډ په مرکزي دفتر کې ترسره شول. په ټوله کې ۱۵۳ په شرایطو برابر لوبغاړو نوملیکنه کړې وه او د لوبغاړو د پېر برخه په ایکن، ډایمنډ، پلاټینم، ګولډ، او سلور کټګورۍ وېشل شوي وه، چې له دې یې ٦۰ تنه تنکي ځوانان ول. له پورته ۱۵۳ ثبت شویو لوبغاړو څخه ۱۳۲ لوبغاړي په شپږیزه کې ولوبېدل او پدې پروسه کې هرې لوبډلې کولی شول چې یو لوبغاړی د مخکې پړاو څخه له ځان سره وساتي.

د شپږیزه کرکټ لیګ د اوم پړاو د لوبغاړو د پېر مراسم

د شپږیزې دغه پړاو سیالۍ په ۱۲ سپورتي کامرو او دوه زن اوټ کامرو په ښه او پرمختللي ډول نشر شول. د یادولو وړ ده، چې د افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲۰ کال په اګست میاشت کې د هندي پروډکشن د ویزو او تداراکاتو پروسه تکمیله کړه ترڅو د پروډکشن غړي په ټاکلي او مناسب وخت کې چمتو شي. هېره دې نه وي چې پدې پړاو شپږیزه کې دوه نور د انګلیسي ژبې افغان تبصره کوونکي د پښتو او دري ژبو تبصره کوونکو سره یو ځای شول ترڅو، په ښه او دقیق شکل په نړیواله کچه ترخلکو د لوبو حال او تبصره ورسوي.
د افغانستان ملي راډیو ټلویزیون چې د تېر کال شپږیزې نشراتي حقوق یې له ځان سره درلودل د دا ځل اوم پړاو نشرات یې بیا ترلاسه کړل او له دې سره یې وشوه کړای چې د ډېرو لیدونکو توجو ځان ته جلب کړي او مینوال یې په لوړه کچه زیات شول.

همدارز د افغانستان ملي ټلویزیون د لوبې له وړاندې او وروسته تبصرو لپاره خپل ښځینه او نارینه ژورنالستان په دندو بوخت کړل. د ملي ټلویزیون د سروی له مخې شاوخوا ۱۲۰۰۰۰۰۰ لیدونکو د اوم پړاو شپږیزه کرکټ لګې سیالۍ په ټوله نړۍ کې لیدلي او ترڅنګ یې د افغانستان کرکټ بورډ او د افغانستان ملي راډیو ټلویزیون د ګډو هڅو په پایله کې پرېکړې ته ورسېدل چې یادې لوبې په خپل فیسبوک پاڼه او یوتوب چینلونو له لارې په ژوندۍ بڼه نشر کړي.
د اوم پړاو شپږیزه کرکټ لیګ سیالیو تر بل هر ځل ډېر لېدونکي درلودل ځکه، چې ددې لوبو انلاین نشراتي امتیاز په هند کې فنکوډ (Fancode) چې له ۹۰ میلیونو ډېر لیدونکي لري، په انګلستان او اروپا کې اچ اس ال ته ورکړل شوی و.

د شپږیزه کرکټ لیګ د اوم پړاو د لوبغاړو د پېر مراسم

سره له دې چې د کرونا ویروس له امله ډیری پانګوال او سوداګر له ګنو اقتصادي زیانونو سره مخ شوي ول خو بیا هم ډیرو شرکتونو او پانګوالو د شپږیزې په اوم پړاو سیالیو کې د پانګونې لېوالتیا درلوده . اتصالات مخابراتي شرکت له د ۲۰۱۴ کال وروسته یو ځل بیا د کرکټ ډګر ته د مالي ملاتړي په توګه را داخل شو او د شپږیزې د اوم پړاو د عمومي ملاتړي امتیاز یې ترلاسه کړ. د افغانستان کرکټ بورډ اداري د شپږیزه کرکټ لیګ په لړ کې د اتصالات او نورو مالي ملاترو څخه د هېڅ ډول همکاریو ډډه ونکړه او دغه پړاو د اتصالات فورجي شپږیزه کرکټ لیګ په نوم ترسره شو. برسبره پر دې د اتصالات لوګو له لیګ لوګو سره یوځای شوه او په لوبغالي کې د ۳۰ سلنه سیمه کې د اعلاناتو حق ورکړل شو. د لباس سپانسر حق د لوبډلو امتیاز لرونکو ته ورکړل شو او ترخنګ یې هر دوی ته په لوبغالي کې ۱۰ سلنه سیمه د خپلو سوداګریزو اعلاناتو په موخه ورکړل شوه.

مالي ملاتړي په لاندې ډول دي:

- ډیوه ګروپ (د بوست ساتونکو لوبډلې د لباس مالي ملاتړی)
- د افغانستان ملي راډیو تلویزیون (د لوبغاړانو د لباس مالي ملاتړی)
- بلاسم روغتون (د روغتیا برخه کې ملاتړی)
- حبیب ګلذار لمیټډ (د څنباک برخه کې ملاتړی)
- مداوا روغتون
- طیب یاسر لمیټډ
- رفاع شاهین ودانیز شرکت

مالي ملاتړي په لاندې ډول دي:

سرله دې چې د اوم پړاو شپږیزه تر ډېره د خلکو لپاره د تفریح یوه زمینه وه ځکه خلک تر ډېره د کرونا ویروس له امله په کورونو کې پاتې شوي ول، خو د مالي عایداتو له پلوه هم د تیر کال شپږم پړاو لیګ څخه یې ګټه د توقع پورته وه. د افغانستان کرکټ بورډ په اوم پړاو شپږیزه لیګ د ټول امتیاز درلودونکي په توګه د پروډکشن او نشراتي برخې په ګډون شاخوا ۳۶۹۰۰۰ امریکایي ډالر لګښت وکړ.

پە لاندې ډول د عایداتو خلاصه شوي معلومات شته دي.

شاوخوا ۶۵۵۰۰ د امریکا ډالړ ګټه له لباس سپانسر او په لوبغالي کې د مارک لګولو څخه ترلاسه شوه . شاوخوا ۲۹۰۰۰ زرو ډالړ ګټه له ټکټونو څخه ترلاسه شوه سر له دې چې د کرونا ویروس د مخنیوي په موخه یوازې ۳۰ سلنه خلک لوبغالي ته راتللی شول. دترون له مخې دافغانستان ملي تلویزیون له لوري د خپریدا نیمه برخه ۹۲۰۰۰ زره ډالړ ورکړل. د هرې لوبډلې امتیاز لرونکي او یا هم د مالي ملاتړي دې ته اماده کړای شول چې په لوبډلې د مدیریت په موخه له ۵۵۰۰۰ څخه تر ۸۰۰۰۰ ډالرو پورې لګښت وکړي.

د تخنیکي پلوه مو ډېرې لاسته راوړنې درلودې، دې لیګ ډیر خبرې پوښښ هم ترلاسه کړ، د تولید په برخه کې مو د پام وړ لاسته راوړنې درلودې، د لوبډلو اړینې اړتیاوې په مناسب وخت کې چمتو کېدې او تولې نورې اړینې اړتیاوې په مناسب وخت کې ترسره کېدې او په ټوله کې د دې اوم پړاو مالي ګټې له تیر کال څخه زیاتې وې.

ښځینه کرکټ

د افغانستان کرکټ بورډ اداري تر څارنې لاندې د افغان ښځینه کرکټ لوبغاړو لپاره د ۲۰ ۲۰ زېږدیز کال د پرمختګونو یو نه هېرېدونکی او تاریخي کال و. سږ کال د لومړي ځل لپاره، د افغانستان کرکټ بورډ ۲۵ ښځینه کرکټ لوبغاړو ته رسمي مرکزي قرار دادونه ورکړل، تر څو ښځینه ملي لوبډله رامنځ ته شي. همدارنګه د افغانستان کرکټ بورډ اداره به د ښځینه لوبډلې د لا پیاوړتیا په موخه په راتلونکې کې د بهرنیو سفرونو او د روزنیزو کمپونو په څېر بېلابېل پلانونه لري چې هر یو به یې وخت په وخت پلي کوي. د افغانستان کرکټ بورډ لپاره د نړیوالې شورا د بشپړ غړي په توګه اړینه ده ترڅو د ښځینه کرکټ ملي لوبډله جوړه کړي، چې اوس مهال د اوسني ریاست لخوا په دې برخه کې ګټور ګامونه اخېستل شوي او یاده موضوع د راتلونکي کال لپاره هم لومړیتوب لري چې په نږدې راتلونکې کې به د یاد هدف د ترلاسه کولو لپاره نور پلانونه هم پلي کړي.

په ۲۰۲۰م زېږدیز کال کې د ښځینه کرکټ لپاره لاندې فعالیتونه ترسره شول:

د مهارتونو د لوړونې لومړی پړاو کمپ

له ۲۰۲۰ ز کال د جولای له لومړۍ نېټې څخه د اکتوبر تر ۱۵هغې پورې د افغانستان کرکټ بورډ اداري د ښځینه څانګې د کارکونکو لخوا په مرکز کابل او هرات ولایتونو کې ۴۸ ورځینی روزنیز کمپ ترسره کړ. له یاد کمپ څخه اصلي موخه د غوره لوبغاړو موندنه او روزنه وه چې له دوی څخه به ملي لوبډلې ته لوبغاړې غوره شي. د کابل روزنیز کمپ لومړی په ویکټوري کرکټ اکاډمی، بیا د محراب الدین لیسې په روزنځای او له هغې وروسته د افغانستان کرکټ بورډ په ملي روزنځای کې ترسره شو. د هرات روزنیز کمپ د هرات ولایت د سولې کرکټ اکاډمی او شبدا کرکټ لوبغالي کې ترسره شو، د یاد کمپ لپاره له ټول ښځینه لوبغاړو څخه چې له ښوونځیو څخه ټاکل شوې وې، یوازې ۶۰ تنه ښځینه لوبغاړې غوره شوې وې. د لوبغاړو د غوراوي پروسه له ۲۰۱۴ کال څخه تر ۲۰۱۹ کال پورې ترسره شوه، چې د دې کلونو په منځ کې زر نجونې وټاکل شوې چې بیا د یادې پروسې په جریان سره له زرو نجونو څخه یوازې سل نجونې مخکې پړاو ته غوره شوې. د یادونې وړ ده چې یاد روزنیز کمپونه د ښځینه لوبغاړو لپاره خورا اغېزناک تمام شول، څکه چې د ښځینه روزونکو لخوا ښځینه غوره لوبغاړو ته د توپ اچونې، توپ وهنې، توپ نیونې او تکړښت په برخه کې روزنه ورکړل شوه. د کمپ په وروستۍ ورځ د کمپ روزونکو له ۶۰ ښځینه لوبغاړو څخه ۴۰ لوبغاړې بل پړاو ته غوره کړې.

دویم پړاو کې د مهارتونو د لوړولو کمپ رامنځ ته شو

د افغانستان کرکټ بورډ د کابل ولایت په روزنځای کې د لومړي پړاو په څیر، دویم پړاو روزنیز کمپ هم د ۲۰۲۰م کال د اکتوبر په ۱۷مه نېټه پیل کړ چې د نومبر میاشتې تر ۵مې نېټې یې د شلو ورځو لپاره دوام وکړ، په یاد روزنیز کمپ کې چې د کابل په ملي کرکټ اکاډمی کې ترسره شو، ۴۰ ښځینه لوبغاړو برخه اخېستې وه چې له جملې څخه یې ۱۱ لوبغاړې د هرات ولایت څخه وې.

د لومړي ځل لپاره د ښځینه ملي لوبډلې جوړولو په موخه لوبغاړو ته مرکزي قراردادونه ورکړل شول

د روزنې او مهارتونو د لوړولو کمپ د ۲۰۲۰م زېږدیز کال په نومبر میاشت کې پای ته ورسېد. له هغه وروسته د کرکټ بورډ ښځینه ځانګې د روزونکو د لخوا د ټولو سیارښتنو په پام کې نیولو سره ۲۵ غوره ښځینه لوبغاړې وټاکلې، یادي ۲۵ لوبغاړې په دې بریالی شوې چې د لومړي ځل لپاره مرکزي قراردادونه ترلاسه کړي.

د ښځینه کرکټ لپاره د لا پرمختګ لار

په افغانستان کې د ښځینه کرکټ لوبډلې ته شدیده اړتیا ده چې د افغانستان له ملي دودونو او کلتور سره سم لا پیاوړې او پرمختللې شي او د همدې هدف پوره کولو لپاره د افغانستان کرکټ بورډ هڅه کوي چې د ښځو لپاره د روزنې او لوبو برابرولو بودیجه او فزیکي زېربناوې چمتو کړي چې یادې ښځینه لوبغاړې نړیوالو لوبو ته چمتو شي. په ټول هیواد کې د ښځینه کرکټ د جوړښت پراخول یو بل ګام دی چې له ښځینه لوبغاړو سره به مرسته وکړي چې خپلې وړتیاوې لوړې کړي او له ملي لوبډلې سره یو ځای شي.

سربېره پر دې، د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې د ښځینه کرکټ په اړه د پوهاوي لوړولو او د کرکټ په اړه معلوماتي ورکشاپونه به د اوږدې مودې لپاره په هیواد کې د ښځینه کرکټ په ساتلو کې مرسته وکړي.

د لوبې پرمختیایي او د ملي کرکټ اکاډمۍ

د لوبې پرمختیایي او د ملي کرکټ اکاډمۍ څانګه د افغانستان کرکټ بورډ د تخنیکي برخې یوه مهمه برخه ده. دغه څانګه د کرکټ د اساسي پرمختګ، د هیواد د ځوانو لوبغاړو د روزلو او هغوی ته په رقابتي کرکټ کې د موقع برابرولو مسؤلیت په غاړه لري چې په مرسته یې په هیواد کې د لوبې روښانه راتلونکې خوندي کړي.

د لوبې پرمختیایي او د ملي کرکټ اکاډمۍ څانګه ګڼ فعالیتونه پرمخ وړي چې مهمه برخه یې له تخنیکي پلوه د لوبغاړو روزل دي. دغه څانګه د استعدادونو د لټون، د لوبغاړو او تخنیکي کارکوونکو د روزلو او پرمختیا پروګرامونو په برخه کې ترټولو مهمه ونډه لري.

۲۰۲۰م کال ته بیاکتنه

د لوبې پرمختيايي او د ملي کرکټ اکاډمۍ څانګې په ۲۰۲۰م کال کې ګڼ شمېر فعاليتونه درلودل چې پکې د استعدادونو د لټون پروګرامونه، د لوبغاړو پرمختيا، د تخنيکي کارمندانو ظرفيت لوړونه او د لوبغالو (خاورو او چمنونو) مديريت پکې شامل ول. دا په داسې حال کې ده چې له يادو پروګرامونو څخه ګڼ شمېر هغه يې د کوئيډ-۱۹ ناروغۍ د خپرېدو له امله ترسره نشول.



د خصوصي روزنځايونو ثبت او راجستر کول

يادې څانګې پلان درلود چې د هیواد په کچه دخصوصي سکتور اړوند ټول د کرکټ روزنځايونه يا اکاډمياني ثبت کړي ترڅو د افغانستان کرکټ بورډ او د يادو روزنځايونو ترمنځ لازمه همغږي رامنځته شي. دغه پلان په لومړيو کې په کابل کې عملي شو چيرته چې د افغانستان کرکټ بورډ د کابل ولايت لس اکاډمۍ راجستر کړې او هغوی ته يې جوازونه ووېشل. د راجسترېشن پروسه به په ۲۰۲۱م کال کې هم دوام ومومي او د هیواد په کچه ۳۰ روزنځايونو ته به د فعاليت جوازونه ووېشل شي.

د روزنځايونو/اکاډميو په کچه د شپاړلس کلنو ځوانانو سيالۍ

دغې څانګې د کابل ښار د ۱٦ راجستر شويو روزنځايونو ترمنځ په کابل کرکټ لوبغالي کې د شپارلس کلنو لوبغاړو سيالۍ په لاره واچولې. دغه سيالۍ ډېرې ګټورې تمامې شوې چې په ترڅ کې يې د افغانستان کرکټ بورډ ډېر شمېر تکړه ځوان لوبغاړي وموندل چې اوسمهال په تمريناتو بوخت دي او په راتلونکي کې کېدلای شي چې د ۱٦ کلنو او ۱۷ کلنو ملي لوبډلو په جوړښت کې کار ترې واخيستل شي. د همدې سياليو د ارزښت او اهميت له امله د افغانستان کرکټ بورډ په پام کې لري چې په ۲۰۲۱م کال کې هم په ټولو ولايتونو کې د اکاډميو ترمنځ د ۱٦ کلنو لوبغاړو په کچه سيالۍ په لاره واچوي.

د ۲۰۲۰م کال کلب لېول سیالۍ

د افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲۰م کال انټرکلب سیالۍ یو له مهمو پروژو څخه و چې په خورا ښه توګه ترسره شوې. د دغو سیالیو لپاره د افغانستان کرکټ بورډ شاوخوا ۴۰۰ کلبونه راجستر کړل چې د ولسوالیو، ولایتونو او زونونو په کچه په دریو پړاوونو کې ترسره شول. په دغو سیالیو کې له ۸۰۰۰ څخه زیاتو لوبغاړو برخه اخیستې وه چې له منځه یې د غوره کارکردګیو درلودونکي لوبغاړي په نښه شول او بیا د ۲۰۲۱م کال دریمه درجه کورنیو ولایتي سیالیو ته ور وپېژندل شول.

د تخنیکي کارمندانو ظرفیت لوړونه

دغه څانګې د تخنیکي کارمندانو لپاره د ظرفیت لوړونې روزنیز پروګرامونه په لاره واچول. له دې ډلې څخه یو پروګرام د ۴۰ ابتدايي روزونکو لپاره د ۵ ورځنۍ د لومړۍ درجې (لېول ون) روزنیز ورکشاپ په لاره واچولو. دغه روزونکي اوسمهال په خپلو ولایتونو کې د ځوانو لوبغاړو په ظرفیت لوړونه بوخت دي. د دې ترڅنګ ۲۵ ابتدايي لوبښارانو ته هم ۵ ورځنۍ روزنیز کورس ترسره کړ، او اوسمهال کولی شي چې په خپلو ولایتونو کې د ولسوالۍ او ولایت په کچه سیالیو کې لوبښارنه وکړي.

د خاورو مدیریت

د افغانستان کرکټ بورډ د خاورو مدیریت لپاره د خپلو روزنځایونو، لوبغالو او سټېډیمونو یوه پراخه سروې ترسره کړه. یاده سروې خورا اغېزناکه وه چې په ترڅ کې یې د افغانستان کرکټ بورډ ته د ویشتنځایونو په اړه پراخه معلومات او نظریات په لاس ورغلل چې څه ډول وکولای شي چې د تمریناتي او رسمي سیالیو لپاره ښه ویشتنځایونه تیار کړي. د یاد پروګرام له مخې د افغانستان کرکټ بورډ ټول لوبغالي او ویشتنځایونه به لېول (هموار) او چمنونو وپوښل شي. د دې ترڅنګ به د ټولو وېکټو خاورې نوې شي او ټولو روزنځایونو ته به ضروري او اړین تجهیزات ورکړل شي.

اداري څـــــــــانګه

اداري څـــــــانګه

د افغانستان کرکټ بورډ اداري څانګه په اداره کې د ملاتړ کوونکی رول هم لري. اداري څانګه په لاندې برخو کې خدمات وړاندې کوي:

- د اداري عمومي خدمات
- د بهرنيو ښکېلو اړخونو سره اړيکې
- د اجناسو مديريت
- د لوجستيکي خدماتو مديريت
- اجناسو د ساتنې خدمات

د افغانستان کرکټ بورډ اداري څانګه د اداري اړوندو ورځنيو چارو څخه څارنه کوي، همدارنګه ياده څانګه له نږدې څخه د افغانستان حکومت او نورو بنسټونو سره يو ځای کار کوي، ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د افغانستان کرکټ بورډ ټولې اړتياوې په لازم او ټاکلي وخت سره پوره کېږي او همدارنګه ياده څانګه د کرکټ بورډ له کارکوونکو او لوبغاړو لوجستيکي ملاتړ هم کوي.

د کوئيډ-۱۹ ناروغۍ پر مهال د شپږيزې غوره ليګ سياليو په ګډون په کور دننه د سياليو ترسره کولو په موخه د عامې روغتيا وزارت څخه د اجازې ترلاسه کول.

د افغانستان کرکټ بورډ اداري څانګه د افغانستان حکومت او کرکټ بورډ تر منځ د اړيکو جوړونې په برخه کې مرکزي رول لوبوي. د کوئيډ-۱۹ ناروغۍ په افغانستان کې د کرکټ پر لوبو ژوره اغېزه درلوده او د کرکټ مهمې لوبې د يادې ناورغۍ له امله ودرېدې، د کرکټ بورډ اداري څانګې د يادې اداري د مشرتابه په لارښوونه اجراأت وکړل او په دې برخه کې يې د روغتيايي چارواکو سره کار پيل کړ، چې په پايله کې د دې څانګې هڅو رنګ راوړ او د کرونا وايروس پر وړاندې د مبارزې لپاره د جوړې شوې کمېټې مشر سرور دانش د کرکټ کورنيو سياليو ته اجازه ورکړه چې په هيواد کې يو ځل بيا د کرکټ سيالۍ پيل شوې. د يادې اجازې ترلاسه کولو وروسته، د افغانستان کرکټ بورډ په سپټمبر مياشت کې د شپږيزې غوره ليګ اووم پړاو سيالۍ ترسره کړې.

اداري ځـــــانگه

اداري څـــــانگه

اداري څـــــانگه

د افغانستان کرکټ بورډ په کار ځای کې د کرونا وایروس د خپرېدو د مخنیوي لارې چارې

د افغانستان کرکټ بورډ اداري څانګې د روغتیایي چارواکو لخوا ټول وړاندیز شوي اړین احتیاطي ګامونه اوچت کړل، تر څو په کاري ځای کې د ویروس د خپراوي مخه ونیول شي، چې په یاده پروسه کې د ماسکونو ، د مکروب ضد مایعاتو وېشل او د اداري ځایونو ښه پاکوالی شامل و.

د کرکټ ملي لوبډلې لوبغاړو او کار کوونکو لپاره د ویزې او سفرونو خدمتونه

اداري څانګه له نورو څانګو لکه د تدارکاتو او عملیاتو څانګې سره د ویزو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي او د کرکټ ملي لوبډلې لوبغاړو او کار کوونکو لپاره بېلابېلو سیالیو ته د تګ په موخه اړینې اسانتیاوې برابروي.

د شپږیزې غوره لیګ لپاره د لوبو د خپراوي لوازمو ګمرکي تصفیه

اداري څانګه، لکه د نشرولو لپاره له هند څرنګه چې له دولتي ارګانونو سره د اړیکو په برخه کې کار کوي، د شپږیزې غوره لیګ او نورو کورنیو سیالیو څخه د راوړل شویو توکو او د خپراوي سندونو د ګمرکي تصفیې په پروسه کې هم د مرستې مسئولیت لري.

د کارکونکو او لوبغاړو لپاره د ترانسپورټ اسانتیاوې

یادې څانګې ته د رسمي سفرونو په لړ کې د ملي لوبډلې لوبغاړو او د کرکټ بورډ کارکوونکو ته د ترانسپورټ د اسانتیا برابرولو دنده هم سپارل شوې ده.

د لوبو په لړ کې د لوبغاړو او کارکوونکو لپاره د استوګن ځای برابرول

اداري څانګه د کورني کرکټ څانګې سره په همغږۍ د غازي امان الله خان لیسټ اې، احمد شاه ابدالي فرسټ کلاس او شپږیزې غوره لیګ ترڅنګ د نورو سترو کورنیو سیالیو په ترڅ کې د لوبغاړو او کارکوونکو لپاره د استوګنې له ځای څخه څارنه کوي.

د افغانستان کرکټ بورډ د غړو ترمنځ د کلنیو ناستو تنظیم

د افغانستان کرکټ بورډ اداري څانګه د یادې اداري د کلنیو عمومي او د مدیره هیئت میاشتنیو ناستو د تنظیم او مدیریت مسؤلیت په غاړه لري. د ۲۰۲۰م کال په لړ کې ډیرې غونډې د کرونا وایروس له امله په انلاین ډول ترسره شوې، اداري څانګې د کرکټ بورډ ټیکنالوژۍ او مالوماتو څانګې سره یوځای کار وکړ چې یادې ناستې په سمه توګه ترسره شي.

RASHID
19
AHIR KHAN

رسنیو څانګه

د افغانستان کرکټ بورډ اداري د رسنیو څانګه یوه مهمه او ارزښتمنه څانګه ده چې له ملي او نړیوالو رسنیو سره نېغ په نېغه اړیکه لري. په همدې اساس د څانګه د اداري ترټولو مهمه برخه ده چې په هېواد دننه او بهر کې د افغانستان د کرکټ تصویر ښودلو او ساتلو مسؤلیت لري. د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو څانګه ادا دنده هم لري چې د افغانستان کورني او نړیوال کرکټ په اړه په مستقیمه توګه د خپلو ټولنیزو رسنیو د رسمي آدرسونو، ویب پاڼو او د میاشتنیو مجلو او په غیر مستقیمه توګه د بېلا بېلو سیمه ایزو او نړیوالو تلویزوني چاینلونو له لارې خلکو ته پراخ معلومات او اطلاعات ورکوي. دغې څانګې ته دنده سپارل شوې ده چې خبري اژانسونو، ورځپاڼه لیکوونکو او ټولو ښکېلو خواو ته چې معلوماتو ته اړتیا لري؛ اطلاعات او معلومات تیار او په واک کې ورکړي. دغه څانګه د رسنیزو بیانیو، اعلامیو او رسنیزو غونډو له لارې ټولو سیمه ایزو او نړیوالو رسنیو ته معلومات ورکوي.

په ۲۰۲۰ م کال کې د رسنیو څانګه!

په ۲۰۲۰ م کال کې لوبې او د کرکټ فعالیتونه د کرونا ویروسي ناروغۍ له امله کم رنګه و او دې هر څه د افغانستان د کرکټ په ګډون ورزش په ټولو فعالیتونو منفي اغېز درلود. له دې هر څه سره، سره بیا هم د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو څانګې په دغه کال کې هره ورځ د کورني کرکټ لوبو د پوښښ په ګډون د افغانستان تر ټولو ستر د شپږیزې اووم پړاو لیګ تر څنګ د نورو سیالیو لکه د غازي امان الله خان لیسټ اې لوبو معلومات او اطلاعات شېبه په شېبه تر مخاطبینو او رسنیو رسېدل. د شپږیزې اووم پړاو لیګ ته د افغانستان کرکټ بورډ د ټولو رسمي ټولنیزو پاڼو څخه له پوره جزئیاتو سره پوښښ ورکړل شو او دغه سیالۍ د لومړي ځل لپاره د یادو ټولنیزو رسنیو له لارې په ژوندۍ بڼه نشر ته وسپارل شوې.

د افغانستان کرکټ بورډ د ټولنیزو رسنیو رسمي پاڼې

د افغانستان کرکټ بورډ د ټولنیزو رسنیو په رسمي پاڼو کې د فیسبوک اداري له لوري منل شوې رسمي د فیسبوک پاڼه، د کورني کرکټ او لوبې پراختیايي چارو لپاره د فیسبوک پاڼه، یو د ټویټر رسمي او منل شوی حساب، یو رسمي د انسټاګرام آدرس او یو د یوټیوب چاینل شامل دي. دغه آدرسونه د ټولو ښکېلو اړخونو لپاره د معلوماتو او اطلاعاتو رسولو په موخه د لومړنیو لوازمو په توګه کارول کیږي.

رسنيو څانګه

فيسبوک

@AfghanistanCricketBoardOfficial

K ۴۴۶.۶

Followers

د افغانستان کرکټ بورډ د فيسبوک دوه رسمي پاڼې لري؛ چې يوه يې د فيسبوک لخوا منل شوې ده او ۲.۵ ميليونه خوښوونکي او څارونکي لري او د افغانستان د کرکټ په اړه د معلوماتو او اطلاعاتو يوازينۍ او مشهوره سرچينه ده. دغې څانګې په ۲۰۱۸م کال کې د کورني کرکټ په نوم يوه بله پاڼه جوړه کړه؛ چې پکې د کورني کرکټ او د لوبې پرمختيايي څانګې فعاليتونه او کارونه نشر ته سپارل کېږي. د کرکټ بورډ په رسمي فيسبوک پاڼه کې اطلاعات او معلومات په درې ژبو (پښتو، دري او انګليسي) نشر ته رسېږي، تر څو ټولو ښکېلو اړخونو او خپلو څارونکو ته په خپله ژبه معلومات په لاس ورشي.

د افغانستان کرکټ بورډ رسمي پاڼه لاندې مهم مسايل نشر ته سپاري:

- د افغانستان کرکټ بورډ اړوند خبرونه او اعلاميې
- د لوبغاړو اړوند ځينې مسايل (کليزې، پخواني ريکارډونه، لاسته راوړنې، خبرونه او نور اړين مسايل)
- د پراختيايي او بنسټيزو کارونو او فعاليتونو په اړه پوسټونه
- د کرکټ په تړاو ډول، ډول منځپانګه لرونکي ويډيوګانې
- د لوبو پوښښ (د پچې اچونې ويډيوګانې او عکسونه، د لوبغاړو د توپ وهنې او توپ اچونې ريکارډونه، د پاڼيو پايلې، د لوبو راپورونه او د پای مراسم)

ټويټر

@ACBofficials

۲,٦۳۷,٥۰۰

Followers

د افغانستان کرکټ بورډ د ټويټر رسمي حساب د خبرونو او اطلاعاتو يوه بله مهمه سرچينه ده چې د اداري او کرکټ اړوند ټول مسايل په انګليسي ژبه د ټويټر کارونکو ته په واک کې ورکوي. اوس مهال د افغانستان کرکټ بورډ د ټويټر حساب د (۴۲۹۰۰۰) په شا و خوا کې څارونکي لري، چې په نړيواله کچه نامتو څېرې هم پکښې شاملې دي.

انسټاګرام

@afghanistancricketboard

K ۱۹۷.۹

Followers

د افغانستان کرکټ بورډ د انسټاګرام پاڼه د انځورونو د نشرولو لومړنۍ مرجع ده چې له ۱۷۷۰۰۰ څخه زيات څارونکي لري او د منظمو نشراتو له امله د چټک پرمختګ په حال کې دی. د انسټاګرام رسمي حساب د IGTV په ځانګړتياوو هم سمبال ده چې په مرسته يې اوږدې ويډيو ګانې له بېلابېلو منځپانګو سره نشر ته سپارل کېږي.



رسنیو خانګه

یوټیوب چینل

AfghanistanCricketBoardOfficial

K ۱۲
Followers

د افغانستان کرکټ بورډ د یوټیوب رسمي چاینل اوس مهال د پرمختګ په حال کې دی او له جوړېدو راهیسې يې د زیاتو محدودیتونو سره سره يې په اساسي توګه پرمختګ کړی دی. د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو څانګه په خپل یوتیوب چاینل کې د لوبغاړو په اړه ویډیوګانې، مستند، مرکې او نور مختلف مطالب ثبت او نشر ته سپاري، مګر د لوبو ویډیوګاني په خپل وخت د رسنیو څانګې ته په لاس نه ورکول کېږي په همدې اساس دغه چاینل د پرمختګ له ستونزې سره مخ دی.

رسمي ویب پاڼه

Cricket.af



د افغانستان کرکټ بورډ رسمي ویب پاڼه په ۲۰۱۹م کال کې بیا ځلي ډیزاین شوه چې د چارو په بشپړېدو سره يې يوه نوې او نسبتاً ساده بڼه خپله کړه. د ویب پاڼې د ډیزاین چارو په ۲۰۲۰م کال کې هم دوام موند چې د وخت په تېرېدو سره ځينې نوري برخې هم ور اضافه شوې. د افغانستان کرکټ بورډ اداري د رسنیو او معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې په ګډه په دغه ویب پاڼه کار کوي، د رسنیو څانګه يې د معلوماتو او اطلاعاتو د ورخپرولو او خپرولو دنده په غاړه لري او د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګه يې د پراختیا او پرمختیا چارې پرمخ وړي. په دغه ویب پاڼه کې په دري ژبو (پښتو، دري او انګلیسي) معلومات او اطلاعات نشر ته سپارل کېږي؛ ترڅو يې بهرني لوستونکي هم ترلاسه کړي. د دې ترڅنګ دغه ویب پاڼه په ژوندۍ بڼه د لوبو خپرولو (د لوبې سکورېنګ یا د منډو شمېرنې) برخه هم لري چې د کورنيو او نړیوالو سیالیو بال په بال منډې پکې نشر ته سپارل کېږي.

رسنيو څـــــــانګه

په ټوله کې د افغانستان کرکټ بورډ په ویب پاڼه لاندې سیالۍ نشر ته سپارل شوې دي:

د ۱۹ کلنو څخه د کم عمره لوبغاړو نړیوال جام سیالۍ

د ۱۹ کلنو څخه د کم عمره لوبغاړو نړیوال جام لوبې د ۲۰۲۰م کال د جنورۍ میاشتې له ۱۷مې نېټې څخه د فیبرورۍ میاشتې تر ۹مې نیټې پورې په سویلي افریقا کې تر سره شوې چې د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو څانګې هم خپل استازی د عکاسۍ، ویډیو او راپور جوړونې او د سیالیو د پوښښ لپاره له لوبډلې سره یاد هیواد ته لېږلی و. دغه سیالو ته د راپورونو، د لوبغاړو سره د کلیپونو، مرکو، له صحنې شاته ویډیوګانو، د لوبغاړو د تمرین ویډیوګانو جوړولو او د نورو مهمو مسایلو په برابرولو سره پوره او هر اړخیز پوښښ ورکړل شوی و. د ۱۹ کلنو څخه د کم عمره ملي لوبډلې په دغه نړیوال جام کې څلور بریاوې خپلې کړې او دوه لوبو کې یې ماتې وخوړه چې په یادو سیالیو کې یې اووم مقام خپل کړی وه.

د ایرلنډ په وړاندې د شل اوریزه لوبو لړۍ

د افغانستان او ایرلنډ کرکټ ملي لوبډلو ترمنځ د ۲۰۲۰م کال په مارچ میاشت کې د هند په ګریټر نویډا کرکټ لوبغالي کې د دریو شل اوریزو سیالیو لوبلړۍ ترسره شوه چې پکې افغان لوبډلې د ۲-۱ بریاوو په مټ لوبلړۍ په خپل نوم کړه. دغو سیالیو ته چې مالي ملاتړ یې د افغانستان اسلامي بانک په غاړه و، د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو څانګې له خپلو رسمي آدرسونو څخه د ټولو اړوند مطالبو په خپرولو سره پوره پوښښ ورکړ.

لومړۍ درجه ولایتي سیالۍ

د هیواد په کچه د لومړۍ درجه ولایتونو ترمنځ سیالۍ لومړی د کوئیډ-۱۹ ویروسي ناروغۍ له امله وځنډول شوې؛ چې بیا څه موده وروسته په اګسټ میاشت کې د افغانستان کرکټ بورډ د یادو سیالیو د ترسره کولو اجازه ترلاسه کړه. یادې سیالۍ د اګسټ میاشتې ۱۲مې نېټې څخه تر ۲۲مې نیټې پورې په خوست ولایت کې ترسره شوې، چې په پایله کې کوربه لوبډلې د سیالیو په پایلوبه کې د ننګرهار ولایت لوبډلې ته ماتې ورکړه او د اتلولۍ جام یې په خپل نوم کړ.

د شپږیزه کرکټ لیګ اووم پړاو سیالۍ

د شپږیزه کرکټ لیګ اووم پړاو سیالۍ د ۲۰۲۰م کال د سیپټمبر میاشتې له شپږمې نېټې څخه تر ۱۶مې نېټې پورې د کابل په کرکټ لوبغالي کې ترسره شوې. دا چې د یادو سیالیو په دوران کې لا هم د کوئیډ-۱۹ ناروغۍ خطر شتون درلود خو بیا هم د افغانستان کرکټ بورډ ته د اړوند دولتي ادارو لخوا د ۳۰٪ لیدونکو د ورتلو او سیالیو د ننداره کولو اجازه ورکړل شوه چې باید د سیالیو په دوران کې د یادې ناروغۍ د مخنیوي لپاره ټول احتیاطي تدابیر په پام کې ونیسي. د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو څانګې د شپږیزې اووم پړاو سیالیو ته غوره پوښښ ورکړ او ټولې لوبې یې په ژوندۍ بڼه د ادارې له رسمي آدرسونو څخه نشر ته وسپارلې، همدارنګه د سیالیو راپورونه او انځورونه په خپل وخت له یادو آدرسونو څخه نشر ته رسېدل؛ په ورته وخت کې د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو څانګې د یادو سیالیو لپاره افغان مبصرین په انګلیسي ژبه د تبصرې لپاره برابر کړل ترڅو په پراخه کچه یادو سیالیو ته مینوال را جلب کړي.

د زونونو په کچه غازي امان الله خان لیسټ ای لوبې

د غازي امان الله خان ترنامه لاندې د زونونو په کچه لیسټ اې سیالۍ د اکټوبر میاشتې له ۱۰مې نېټې څخه تر ۲۲مې نیټې پورې په کندهار ولایت کې ترسره شوې. دغه سیالۍ د افغانستان د کورني کرکټ یو له مهمو سیالیو څخه دي چې د افغانستان ټول ملي او کورني کرکټ لوبغاړي پکې ګډون کوي؛ نو په همدې اساس د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو څانګې استازي هم کندهار ولایت ته ولاړل، تر څو له هغه ځای څخه یادو لوبو ته هر اړخیز پوښښ ورکړي.

د افغانستان کرکټ بورډ میاشتنۍ مجله



«افغان کرکټ» د افغانستان کرکټ بورډ رسمي میاشتنۍ مجله ده، چې هره میاشت د کرکټ بېلابېل معلومات او مطالب پکې نشر ته سپارل کېږي. دغه مجله چې مقالې، مرکې او د کرکټ خبرونه له ځان سره لري د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو څانګې له لورې ترتیب او چاپ ته سپارل کېږي.

رسنيو څانګه

د کرکټ لوبې اړوند رسنيو سره صميمانه اړيکې

د ۲۰۲۰م کال په ترځ کې تر ټولو د پام وړ ټکی دا هم و چې د افغانستان د کرکټ بورډ اداري د رسنيو څانګې د کرکټ د نورو مشهورو رسنيو لکه د کرکټ نړيواله شورا او د کرک انفو ، کرک بز او کرک ټريکر په څېر نړيوالو کرکټ ويبپاڼو سره پراخې اړيکې درلودې. دغه پراخه اړيکې د دې لامل شوې چې په نړيواله کچه افغان کرکټ ته غوره پوښښ ورکړل شي. څينې بېلګې يې په لاندې ډول دي:

- د کرکټ نړيوالې شوراء د رحمن الله ګربز د مبارکۍ ويډيو د افغانستان په ملي ژبه پښتو نشر کړه چې په هغې کې ګربز له ټولو مينوالو څخه د شپږيزې اووم پړاو ليګ پر مهال د پراخ ملاتړ څخه مننه کړې وه.
- د افغانستان د سيمه ايز کرکټ هغه انځورونه چې د افغانستان کرکټ بورډ د انځورګرو له لوري اخيستل شوي و، د کرکټ نړيوالې شوراء، کرکټ انفو او د امريکا غږ آشنا راډيو ټلويزيون په څېر نورو رسنيو خپلو رسمي پاڼو نشر ته سپارلي ول.
- د کرکټ نړيوالې شوراء د انجونو په نړيواله ورځ د لوبې پرمهال د افغان کم عمره انجونو انځورونه نشر کړل.

د لوبغاړو لپاره له رسنيز ورکشاپ

د افغانستان کرکټ بورډ د رسنيو څانګې د ۲۰۲۰م کال په جولای مياشت کې د ملي لوبغاړو لپاره له رسنيو سره د ښې مخامخېدنې په موخه يو دوه ورځنی ورکشاپ داير کړ. په دغه ورکشاپ کې له لوبغاړو سره په دې کار وشو چې څه ډول کولی شي د ټلويزيوني چاينلونو، ويب پاڼو، ورځپاڼو او نورو ملي او نړيوالو رسنيو سره د مرکو له لارې خپل پيغامونه په عام فهمه او داسې ډول چې بحثونه ولاړ نکړي، خپلو مينوالو ته ورسوي.

د افغان ژورنالستانو د کلني کانګرس په لړ کې ورزشي خبريالانو ته رسنيز ورکشاپ

د افغانستان ورزشي خبريالانو د فدراسيون څلورم کانګرس د ۲۰۲۰م کال نومبر مياشت کې د افغانستان کرکټ بورډ په مالي ملاتړ په کابل کې ترسره شو. د دغه کانګرس پر مهال چې د هېواد اکثره خبريالان يې ګډونوال و؛ يادو خبريالانو ته د کرکټ بورډ د رسنيو برخې استازو لخوا لنډ ورکشاپ، چې د رسنيو له لوري لوبو ته د پوښښ ورکولو او د کرکټ فعاليتونو د خپرولو اړوند و، ارايه شو. همدارنګه د رسنيو څانګې په دې ژور بحث وکړ چې د لوبو غوره پوښښ څه ډول د کرکټ په وده او پرمختګ کې پراخه اغېزه لري.

د انجینرۍ او بنسټیزې پراختیا څانگه

د هېواد په گوټ، گوټ کې د کرونا ناروغۍ له خپرېدو وروسته او د تگ راتگ محدودیتونو ته په پام سره، په ۲۰۲۰م زېږدیز کال کې د بنسټیزې پراختیا په برخه کې د افغانستان کرکټ بورډ له ننگونو سره مخ کړ. په ورته وخت کې، د افغانستان کرکټ بورډ انجینرۍ او زیربنایي پراختیا څانگې د پام وړ فعالیتونه ترسره کړل، ډېرې پروژې لکه د بېلابېلو لوبغالو جوړول، د روزنځایونو جوړول او مېلمستونو رغول چې ډېرې پروژې د همدې کال په لړ کې بشپړې شوې دي.

په ۲۰۲۰م زیږدیز کال کې لاندې لویو پروژو عملي بڼه خپله کړه:

د پکتیکا کرکټ لوبغالی

په پکتیکا ولایت کې د لوبغالي د رغونې چارې سل سلنه بشپړې شوې دي او د ۲۰۲۰م کال په سپټمبر میاشت کې د افغانستان کرکټ بورډ د انجینرۍ څانگې تر نظارت لاندې د قراردادیانو لخوا د افغانستان کرکټ بورډ ته وسپارل شو. په لوبغالي کې د پیچونو یا شنو ساحو جوړول، د اکاډمۍ یا روزنځای لپاره جال او د روزنځای لپاره پنجرې د یاد لوبغالي په پروژه کې شاملې وې.

د خوست لوبغالی

د خوست ولایت د لوبغالي شاوخوا د احاطوي دیوال د ډیزاین چارې د ۲۰۲۰م کال په فیبروری میاشت کې بشپړې شوې، په داسې حال کې چې یاد لوبغالی په جون میاشت کې د یوه قراردادي شرکت له لورې د افغانستان کرکټ بورډ اداري ته وسپارل شو.

د پکتیا ولایت د کرکټ اکاډمي

په پکتیا ولایت کې د کرکټ روزنځای د ډیزاین چارې د ۲۰۲۰م زېږدیز کال په فبروری میاشت کې بشپړې شوې او د افغانستان کرکټ بورډ د اپریل په میاشت کې د پکتیا په لوبغالي کې د پیچونو، شنو ساحو، پنجرې او د روزنځای لپاره د جالونو جوړولو چارې پیل کړې.

د کندهار ولایت مېلمستون

د افغانستان کرکټ بورډ د انجینرۍ څانگې غړو د ۲۰۲۰م زېږدیز کال په مارچ میاشت کې کندهار ته سفر وکړ، تر څو د مېلمستون ودانیزې چارې وڅېړي. یاد مېلمستون د کندهارولایت لوبغالي ته څېرمه موقعیت لري چې د میلمنو لپاره ۲۰ خونې او ټول د ضرورت وړ وسایل لري. د یاد مېلمستون ودانیزې چارې چې ۹۰ سلنه بشپړې شوې وې، د کرونا وایروس له امله دربدلې وې، چې وروسته یو ځل بیا پیل شوې. د همدې کال په نومبر میاشت کې د انجینرۍ څانگې غړو یو ځل بیا له یاد مېلمستون څخه لیدنه وکړه ترڅو د مېلمستون رغنیزې چارې له نږدې څخه وگوري.

د انجینرۍ او بنسټیزې پراختیا څانګه

د هلمند ولایت کرکټ لوبغالی

د هلمند ولایت لوبغالي ودانیزې چارې شاوخوا ۹۹ سلنه بشپړې شوې دي. د ننداړچیانو لپاره د ناستې ځای، د لوبغالي شاوخوا د ویالو جوړول، پویلین، روزنځای او په لوبغالي کې د وښو کښت چارې د ۲۰۲۰ کال په جنورۍ میاشت کې بشپړې شوې دي، خو یاده پروژه تر اوسه د افغانستان کرکټ بورډ اداري ته نه ده سپارل شوې. د یادې پروژې ډیزاین او نظارت د افغانستان کرکټ بورډ د انجینرۍ څانګې له لورې ترسره شوی دی. د یادونې وړ ده، چې د افغانستان کرکټ بورډ انجینرانو د سیمې د امنیتي ستونزو سربېره هلمند ولایت ته سفر کولو او د پروژې دوامداره څېړنه یې کوله.

د کنړ ولایت د کرکټ روزنځای

د کنړ ولایت د کرکټ اکاډمۍ د ډیزاین چارې د ۲۰۲۰ کال په فیبرورۍ میاشت کې پیل شوې، خو د کرونا ویروس د خپرېدو له امله یې د رغونې چارې له ځنډ سره مخ شوې، چې بیا وروسته د ۲۰۲۰م کال په جولای میاشت کې پیل او د همدې کال په اګسټ میاشت کې بشپړې شوې.

په لوګر ولایت کې د پول عالم کرکټ لوبغالی

د لوګر ولایت پول عالم کرکټ لوبغالي رغنیزې چارې ټولې سل سلنه بشپړې شوې دي، چې د افغانستان کرکټ بورډ انجینرانو د ۲۰۲۰م زېږدیز کال په اپریل میاشت کې د یاد لوبغالي برش، ډکون او لېول چارې ترسره کړې. د ۲۰۲۰م زېږدیز کال په جون میاشت کې د لوګر ولایت په محمد اغې ولسوالۍ کې هم د یوه بل لوبغالي رغنیزې چارې پیل شوې.

د نجیب الله تره کي کرکټ لوبغالی(ننګرهار ولایت بهسودو ولسوالی)

په ننګرهار کې د نجیب الله تره کي کرکټ لوبغالي د رغونې لومړی پړاو چارې د ۲۰۲۰م زېږدیز کال په جون میاشت کې پیل شوې او د یاد کال په سپټمبر میاشت کې بشپړې شوې چې بیا وروسته یاد لوبغالی د ملي ستوري شهید نجیب الله تره کي په نوم ونومول شو.

په بلخ ولایت کې د کرکټ لوبغالی

د بلخ ولایت کرکټ لوبغالي رغونې چارې د اسناد لومړنۍ پروسې د ارزونې وروسته په ۲۰۲۰ کال کې پیل شوې. په یاد لوبغالي کې د پویلین ودانۍ ډیزاین، د اوبو رسولو سېسټم، چمن، کټارې، پلې لارې، د میدان شاوخوا د ویالو جوړول، روزنځای، د ننداره چیانو لپاره د ناستې ځای، د لوبغالي د احاطې دیوال او د لوبغاړو لپاره ځانګړې خونې د جوړولو چارې بشپړې شوې دي. دغه لوبغالی چې د ۳۰۰۰ ننداره چیانو ځايدو ظرفیت لري، ۱۵ سلنه چارې یې بشپړې شوې دي. د انجینرۍ څانګې غړو د ۲۰۲۰م کال په اکتوبر میاشت کې یاد ولایت ته سفر وکړ ترڅو له یادې پروژې څخه نظارت وکړي.

د میدان وردګ ولایت کرکټ لوبغالی

په میدان وردګ ولایت کې د لوبغالي د رغونې چارې د ۲۰۲۰ کال په اګسټ میاشت کې پیل شوې، د یادې پروژې د رغونې چارې رواني دي چې تر اوسه ۸ سلنه بشپړې شوې دي. د افغانستان کرکټ بورډ انجینرۍ څانګې غړو په اګسټ میاشت کې له یادې پروژې څخه لیدنه او نظارت وکړ.

د بازار موندنې څانګه

د افغانستان کرکټ بورډ د بازارموندنې څانګه د بازارموندنې په برخه کې په اعلاناتو، پلور، عاید، ډیجیټلي نښې او د مالي ملاتړ مدیریت کې کار کوي. ۲۰۲۰ م کال یو ننګونکی کال و ځکه چې د کرونا ویروس په ټوله نړۍ کې د افغانستان په ګډون د هندوستان او متحده عربي اماراتو په سوداګرۍ اغېز کړی و؛ په داسې حال کې چې دغه هېوادونه د افغانستان کرکټ لپاره ترټولو لوی سوداګریز بازارونه دي. د کرونا ویروس محدودیتونه د ګڼو لوبو د لغوه کېدو او یا هم د ځنډېدو لامل شول، په همدې حال کې د بازار موندنې څانګې له دولت څخه د کورنۍ کرکټ له اجازې اخیستو او د روغتیایي لارښوونو په پلي کولو سره د لوبو ترسره کېدو څخه ترسره کړې؛ چې په پایله کې یې دي وتوانېدل چې د شپږیزې کرکټ لیګ پړاو لوبې ترسره کړي.

په ټوله کې هغه مهمې پېښې چې په ۲۰۲۰ م کال کې د مالي ملاتړ له لارې د عاید تولید لامل شوې په لاندې ډول دي:

د افغانستان او ایرلنډ ترمنځ د شل اوریزه لوبو لوبلړۍ.

افغانستان او ایرلنډ ترمنځ د شل اوریزه لوبو لوبلړۍ د مارچ میاشتې په شپږمه، اتمه او لسمه نېټه د هندوستان په ګریټر نویډا کې ترسره شوه، په داسې حال کې چې د دغه لوبلړۍ دریمه لوبه له سوپر اور یا غوره اور وروسته د ایرلنډ لوبډلې په بریا پای ته ورسېده. افغانستان کرکټ ملي لوبډلې دغه لوبلړۍ دوه د یو ۲-۱ په وړاندې له ایرلنډ لوبډلې څخه وګټله. د تېرو کلنو راهیسې د افغانستان کرکټ بورډ اداري او د مالي ملاتړ کوونکو ترمنځ د قوي اړیکې په پایله کې د افغانستان اسلامي بانک د عمومي ملاتړ کونکي امتیاز او کاردان پوهنتون د ملي لوبډلې لوبغاړو د لباس سپانسر ترلاسه کړ. دواړو ادارو له دې مالي ملاتړ مخکې هم د افغانستان کرکټ بورډ اداري سره همکاري کړې وه؛ نو په همدې اساس د کام ایر هوایي شرکت سره د سفر ملګري په حیث تړون لاسلیک شو، چې په ترځ کې به یې لوبغاړي او چارواکي له کابل څخه نوي ډهلي ته سفر کوي.

د بازار موندني ځانګه

د بازار موندني ځانګه

د شپږيزه کرکټ لیګ اووم پړاو

د شپږيزې کرکټ لیګ اووم پړاو د سیپټمبر د میاشتي له شپږمي نېټي څخه تر ۱۶ مي نېټي په کابل کرکټ لوبغالي کې ترسره شو. دغه لوبې د افغانستان د کورني کرکټ یو تر ټولو مشهورې لوبې دي، چې د هېواد د سوداګریز کرکټ په پراختیا کې یې همکاري کړې. په دغه لوبو کې شپږو لوبډلو ګډون درلو چې له منځه یې پنځه لوبډلې پلورل شوې وې او د يوې لوبډلې(بست ساتونکي) مالکیت د افغانستان کرکټ بورډ اداري ته پاتې شو. د اتصالات مخابراتي شرکت د افغانستان کرکټ بورډ له اداري سره د خپلو سوداګریزو اړیکو د بیا پیلولو سره د شپږيزې کرکټ لیګ اووم پړاو د عمومي مالي ملاتړ کونکي امتیاز ترلاسه کړ او دغه پړاو د اتصالات فورجي شپږيزه کرکټ لیګ اووم پړاو په نوم ونومول شو او د روغتیایي لارښوونو په پلي کولو سره ترسره شو.

د شپږيزې کرکټ لیګ اووم پړاو مالي ملاتړ کوونکي او شریکان په لاندې ډول دي:

- د اتصالات مخابراتي شرکت (د دغه پړاو عمومي مالي ملاتړ کونکی)
- د افغانستان ملي راډیو تلویزیون (د شپږيزې کرکټ لیګ د اووم پړاو قانوني خپرونکي)
- ډيلي فريش(د بند امیر خامارانو لوبډلې امتیاز لرونکی)
- حضرت لیمیټډ (د مس عینک اتلانو د لوبډلې امتیاز لرونکی)
- نوید احمد صرافي (د امو نهنګانو د لوبډلې امتیاز لرونکی)
- د افغانستان ډېرو سکرو د سوداګرو اتحادیه (د سپین غر زمریانو د لوبډلې امتیاز لرونکی)
- د ایوبي ورزش تولنه (د کابل بازانو د لوبډلې امتیاز لرونکی)
- ډيوه ګروپ (د بست ساتونکي لوبډلې د لوبغاړو د لباس ملاتړي)
- د افغانستان ملي راډیو تلویزیون (د لوبغاړانو د لباس ملاتړي)
- فن کوډ (په هند او ګاونډیو هېوادونو کې ډیجیټلي ملګری)
- ایچ ایس ایل (په اروپا کې د انلاین خپراوي ملګری)
- مداوا روغتون
- حبیب ګلزار لیمیټډ
- طیب یاسر لیمیټډ
- د رفاع شاهین ساختماني شرکت

راتلونکې کړنې

د افغانستان کرکټ بورډ د بازارموندني ځانګه د بازارموندني په برخه کې په اعلاناتو، پلور، عاید، ډیجیټلي نښې او د مالي ملاتړ مدیریت کې کار کوي. ۲۰۲۰ م کال یو ننګونکی کال و ځکه چې د کرونا ویروس په ټوله نړۍ کې د افغانستان په ګډون د هندوستان او متحده عربي اماراتو په سوداګرۍ اغېز کړی و؛ په داسې حال کې چې دغه هېوادونه د افغانستان کرکټ لپاره ترټولو لوی سوداګریز بازارونه دي. د کرونا ویروس محدودیتونه د ګڼو لوبو لغوه کېدو او یا هم د ځنډېدو لامل شول، په همدې حال کې د بازار موندني ځانګې له دولت څخه د کورني کرکټ له اجازې اخیستو او د روغتیایي لارښوونو په پلي کولو سره د لوبو ترسره کېدو هڅې ترسره کړې؛ چې په پایله کې په دې وتوانېدل چې د شپږيزې کرکټ لیګ اووم پړاو لوبې ترسره کړي.

د معلوماتي ټکنالوژۍ څـــــــــــانګه

د معلوماتي ټکنالوژۍ او د معلوماتو د مدیریت سیستم څانګه د افغانستان کرکټ بورډ ټولې تخنیکي چارې سمبالوي. دغه څانګه د چارو ځانګړې او معلومه ساحه لري چې د سافټ وېرونو او اپلیکېشنونو جوړول، د اداري د خپلمنځي شبکو او مخابراتي سیستمونو جوړول، د سرور د خونې مدیریت، د معلوماتو د خوندیتوب سیستم، د شبکو مدیریت او د سیستم خوندیتوب یې د جارو په ساحه کې شامل دي. لاندې ځینې هغه کارونه ذکر شوي دي چې د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې د ۲۰۲۰م کال په دوران کې ترسره کړې دي.

د افغانستان کرکټ بورډ د ویبپاڼې دوباره ترمیم

د اداري په توګه باید د ویبپاڼې آسانتیا ته اولیت ورکړل شي. هغه سافت وېرونه او ویبپاڼه چې خلک ترې لیدل کوي باید د لیدونکو لپاره اسانه وي نو له همدې امله د افغانستان کرکټ ویبپاڼه هم بیا ځلې ترمیم شوه. د ټکنالوژۍ نړۍ په چټکۍ سره پرمخ روانه ده او هره ورځ نوي تحولات پکې رامنځته کیږي. په تېرو لنډو وختونو کې د یوې پاڼې لرونکو اپلیکېشنو (Single-Page Application – SPA)نظریه منځته راغله چې د ویبپاڼو په پرمختیا او پراختیا کې کارول کیږي. دغه نظریه د پخوانیو هغو اپلیکېشنو چې ډېرې پاڼې به یې درلودې، د ډېرو آسانتیاوو درلودونکې دی او ډېر ښه والي لري.

د یوې پاڼې لرونکو اپلیکېشنونه هغه پاڼې ذي چې د یوه براوزر په منځ کې کار کوي او د استعمال یا د مطالبو د پلټلو یا لوستلو پر مهال ډېر لوډینګ نه کوي او نه هم پکې ډېر وخت ضایع کیږي. دا اپلیکېشنونه یوه پاڼه یا یو مخ لري چې لوستونکي له ور ننوتلو وروسته د جاوا سکریپټ په مرسته، چې د معلوماتي ټکنالوژۍ د کوډینګ طریقه ده، نور ټول مطالب هم کتلای شي. یوه لکه فېسبوک، جي مېل، ګوګل مپس او نور....

د یوې پاڼې لرونکي سایټونه لوستونکي په یوه، آسانه او راحته ویبپاڼه کې ساتي چیرته چې د پاڼې مطالب لوستونکو ته په ساده، آسانه او کارېدونکې بڼه په واک کې ورکوي. د همدې پاڼو ځینې ښه والي او ځانګړتیاوې په لاندې ډول را اخیستل شوي دي، چې د افغانستان کرکټ بورډ په ویبپاڼه کې کاریدلي دي.

- ایس پي اې د (HTML+CSS+Scripts) په ځبر چټک کار کوي، او یوازې د لوستونکو د ورننوتلو پر مهال لوډینګ کوي چې له هغه وروسته معلومات او مطالب یوازې وروسته او وړاندې کیږي.
- دغه پاڼې په ساده او پرمختللې بڼه جوړه شوې ده. د پاڼو د کمولو لپاره د کوډونو د لیکلو اړتیا نشته. د ویبپاڼې د بیاځلې جوړول ډېر آسانه کیږي ځکه چې د ویبپاڼې د جوړولو چارې په آسانۍ سره د (file://URI) فایل په خلاصولو سره پیلیږي.
- ایس پي اې پاڼې د ګوګل کروم په واسطه هم بیاځلې جوړېدلای شي. د شبکې د چارو ارزونه، د پاڼو د عناصرو او د شته معلوماتو څېړنه په اساني سره ترسره کیږي.
- د ګرځنده ټیلیفونونو لپاره د اپلیکېشن جوړول هم په خورا آسانۍ سره پکې کیږي ځکه چې د پاڼې جوړونکی د ویپاڼې او د ټیلیفوني اپلیکیشنونو د جوړولو لپاره د یوډول کوډونو څخه کار اخلي.
- ایس پي اې د ټیلیفون یا ویبپاڼې په خپله حافظه کې ټول اضافي معلومات هم خوندي کولایشي. یو اپلیکېشن یوازې په یو ځل غوښتنې سره ټول معلومات خوندي کوي چې بیا د انټرنیټ د نشتون پرمهال هم کارول کېدای شي.

د معلوماتي ټکنالوژۍ څـــــانګه

د افغانستان کرکټ بورډ د ویبپاڼې په دوباره ترمیم کې لاندې کړنې ترسره شوې:

- ویبپاڼه له پخوانیو ډېرو پاڼو درلودونکو اپلیکېشنونو (MPAs) څخه یوې پاڼې درلودونکې اپلیکیشن (SPAs)ته واړول شوه.
- د ویبپاڼې په SEO باندې کار وشو
- د ویبپاڼې د لا جذابیت لپاره یو شمېر ستر بدلونونه پکې راوستل شول
- د ویبپاڼې د خوندي ساتنې په موخه بکې پرمختللې امنیتي سیستم وکارول شو
- د ویبپاڼې په لېنډینګ ساحه کې د ویډیوګانو برخه هم ځای پرځای شوه
- د مطالبو د لوستلو پرمهال د لوډینګ په کمولو او د سرعت په زیاتولو یې کار وشو
- د ورځې د غوره انځور لپاره په ویبپاڼه کې ځانګړې ځای اضافه شو
- د لوبغاړو پروفایل ته ځای مشخص شو
- د لوبو خلاصې لپاره ځای جوړ شو
- د کرکټ بورډ د تاریخچه او پس منظر پکې اضافه شول
- د لوبډلو برخه ور اضافه شوه
- د وراندیزونو او فرصتونو برخه پکې اضافه شوه
- د راتلونکو سیالیو لپاره ځای برابر شو
- د پرمختیایي او بنسټیزو کارونو لپاره ځای جوړ شو
- د منډو د ژوندۍ خپرونې او ټولنیزو رسنیو ته پکې ساحه مشخصه او جوړه شوه

له ام پي اې څخه ایس پي اې ته د خپلې ویبپاڼې د بدلولو پرمهال د SEO په څېر ستونزو سره مخ شو بیا مو د Nuxt.js طریقې په مرسته یاده ستونزه هواره کړه.

خلاصه دا چې دغه ویبپاڼه د افغانستان کرکټ بورډ او ولس یا د کرکټ د مینوالو ترمنځ د پُل په توګه فعالیت کوي. نو له همدې امله مونږ خپله پوره هڅه کوو چې ویبپاڼه د پرمختللې ټکنالوژۍ د کارولو په مټ فعاله، آسانه او له کره، تازه او وروستیو معلوماتو څخه ډکه وساتو.

د افغانستان کرکټ بورډ د ویبپاڼې په دوباره ترمیم کې لاندې کړنې ترسره شوې:

د چارو د مدیریت سیستم د چارو په منظموالي او ترتیب کې مرسته کوي چې د اداري په ابره ورتوب/ ګټور توب کې اغېزمن رول لري. په دغه سیستم کې چارو ټاکل، د چارو د پیل او پای نېټې، تبصرې، منظورۍ او ټوله پروسه او جریان شامل دي. کارمندان کولای شي چې د دغه سیستم له لارې د ایمیل او یا زنګ وهلو پرته چارو د جریان، څنډ او یا هم د پوره کېدو په اړه خپل مدیر ته راپور ورکړي. دغه سیستم جوړ شوی، ازمایل شوی او کارول شوی دی. د سیستم د کاروني حسابونه جوړ شوي دي او د افغانستان کرکټ بورډ ټولو څانګو مشرانو ته د سیستم د کاروني په اړه روزنه ورکړل شوې ده. په دغه سیستم کې لاندې مهمې برخې شاملې دي.

- د پروژو پیل
- د اهدافو ټاکل
- د چارو د لیسټ جوړولو ساحه
- چارو رامنځته کول، سپارل او تعقیب ساحه
- څانګړو چارو ته د اولیت ورکولو برخه
- د خبرولو یا یادښت ساحه
- ډش بورډ

د تدارکاتو د مدیریت سیستم لومړی پړاو

د افغانستان کرکټ بورډ د تدارکاتو څانګې لپاره د په سیستم جوړولو کار وشو چې لومړی پړاو کارونه یې بشپړ شوي دي. د یاد سیستم د جوړولو موخه د اړینو اسنادو او شواهدو د خوندیتوب او په تدارکاتي پروسه کې د آسانتیا رامنځته کول دي. په دغه سیستم کې لاندې برخې شاملې دي:

- د خریدارۍ د غوښتنې بروسه
- د څانګې د مشر لخوا د خریدارۍ د غوښتنې تایید او منظورۍ او د پروسې د بشپړولو لپاره نورو اجراآتو ته لېږل
- د د خریدارۍ د غوښتنې د تعقیبولو پروسه
- د اجرائیه رئیس لخوا د خریدارۍ د غوښتنې تایید یا رد
- د تدارکاتو څانګې لخوا د خریدارۍ د غوښتنې پروسه مخکې وړل
- د مالي څانګې لخوا د خریدارۍ د غوښتنې پروسه مخکې وړل

د معلوماتي ټکنالوژۍ څـــــانګه

د افغانستان کرکټ بورډ د ویبپاڼې په دوباره ترمیم کې لاندې کړنې ترسره شوې:

دغه سیستم د دې لپاره جوړ شو چې د ټولو لوبغاړو په اړه پکې معلومات ځای پر ځای کړي، بیا یې په ۵ برخو ووېشي ترڅو د ټولو لوبډلو مالکانو ته د لوبغاړو په پېرلو کې آسانتیا رامنځته شي. دغه سیستم دا ثابتوي چې د افغانستان کرکټ بورډ د مسلکیتوب او ډیجیټلي کېدو په خورا روان دی او د پخوانیو سیستمونو څخه د نویو او عصري ټکنالوژیو د کارونې په لور مزل کوي. دغه سیستم کې لاندې برخې ځای پر ځای شوې دي:

- د بولۍ لپاره د لوبغاړو لیسټ
- د لوبغاړو د شل اوریزو سیالیو ریکارډ
- د بولۍ لپاره لوبغاړو کټګورۍ
- بېلابېلې لوبډلې
- د بولۍ د نوبت جوکاټونه
- د لوبغاړو د پېرلو پروسه
- د لوبډلو سکواډونه
- د بولۍ د هر پړاو خلاصه
- د هره نوبت خلاصه

د شپږیزې کرکټ لیګ د اعتماد نامو / کارتونو د مدیریت سیستم

د اووم پړاو شپږیزه کرکټ لیګ سیالیو لپاره د کارتونو د مدیریت سیستم جوړ شو چې د افغانستان کرکټ بورډ له ویبسایټ سره هم ونښلول شو. دغه سیستم د رسنیو د استازو، د لوبډلو مالکانو، لوبغاړو او کارمندانو، د افغانستان کرکټ بورډ کارمندانو، ځانګړو مېلمنو او نورو ښکېلو اړخونو لخوا په پراخ ډول وکارول شو. په دغه سیستم کې لاندې برخې شاملې وې.

- د رسنیو د استازو د ثبت پروسه
- د لوبډلو د مالکانو، لوبغاړو او کارکوونکو د ثبت پروسه
- د لوبو د تخنیکي برخې کارمندانو د ثبت پروسه
- د افغانستان کرکټ بورډ د کارمندانو د ثبت پروسه
- د ځانګړو مېلمنو د ثبت پروسه
- د لوبغالي د مسؤلینو او کارکوونکو د ثبت پروسه
- د لوبو د خپراوي پروډکشن او تخنیکي کارکوونکو د ثبت پروسه
- د شرایطو د پوره کولو تصدیق
- په کارتونو یا اعتماد نامو کې د ځانګړو ساحو تعینول

د ایمیل د سرور ساتل او ترې څارنه کول

ایمیل د تجارتي اړیکو لپاره مهمه وسیله ده چې چټکه، ارزانه او د لاسرسي وړ دی. د ایمیل کارول په ادارو کې ګټور دي چې د الکترونیکي مطالبو او معلوماتو د لېږلو او ترلاسه کولو لپاره اغېزمنې او مؤثره لارې وړاندې کوي.

د دې لپاره چې د ایمیلي اړیکو ګټې او اهمیت وساتل شي نو د افغانستان کرکټ بورډ د معلوماتي ټکنالوژۍ څانګې خپل ټول معلومات له ټیټ کیفیت لرونکې کمپنۍ څخه ګوګل کمپنۍ (جي مېل) ته انتقال کړل ترڅو په ملایمه، چټکه او خوندي بڼه په څلوریشت ساعته توګه خدمات ترلاسه کړي. ځکه چې محلي او ټیټ کیفیت لرونکې کمپنۍ دغه ډول خدمات نشول وړاندې کولای.

د مـــــالي ځـــــانګه

۲۰۲۰ م کال ته په کتو د دغه کال تر پایه ټول عواید ۷,۱۵ میلیونه ډالره و، په داسې حال کې چې د دې مقدار ۸۵٪ سلنه د کرکټ نړیوالې شورا څخه، ۹٪ سلنه له دولت څخه ، ۴٪ سلنه د بازار موندنې څخه او ۳٪ سلنه د شپږیزې کرکټ لیګ اووم پړاو څخه راغلي و، د شپږیزې کرکټ لیګ خپل ځانګړي لګښتونه هم درلودل، مګر د شپږیزې لیګ بیا هم د خپلو لګښتونو ډیری برخه خپله ادا کړه.
د تېر کال عاید په پرتله د کرکټ نړیوالې شورا لخوا د تمویل سربېره د تېر کال په نسبت په عوایدو کې ۴۴٪ سلنه کموالی راغلی، چې اساسي لامل یې د کرونا ویروس خپرېدل او د دولت ترڅنګ د نورو ملاتړ کونکو لخوا کم مصرف و.



د مـــــالي څـــــانګه

لګښتونه:

د کال لپاره لګښتونه ٦,٧٦ میلیونه و. څنګه چې نړیوالې لوبې لومړیتوب لري، د دې پیسو ډیره برخه په دې لوبو مصرف شوې او د دې پیسو یو څه په کورني کرکټ، د لوبې پراختیا او زیربنا، د فساد پر ضد مبارزه، امنیت، بشري سرچینو، ښځینه کرکټ، رسنیو، بازار موندنې او د سیستم پرمختګ برخه کې مصرف شوي دي. ارقامو ته په کتو د دې کال لپاره لګښتونه د تیر کال په پرتله ۴۵٪ سلنه کم و، کوم چې په ډیرو ځایونو کې په زیات احتمال ورته او مناسب دي. د کلني عاید ډیری برخه تل په نړیوال کرکټ باندې مصرفیږي او د کورني کرکټ څانګه د ښوونځیو لوبې، دوه ورځنۍ لوبې، درې ورځنۍ او څلور ورځنۍ لوبو باندې ډیر مصرف کوي؛ په داسې حال کې چې د لوبې پراختیا څانګه په زیربناو، روزنه او مهارتونو پراختیا فعالیتونو باندې مصرف کوي، همدارنګه د رسنیو څانګه هڅه کوي د لیدونکو راجلبولو او بازارموندنې ته وده ورکولو لپاره کلیدي فعالیتونه وښیي. د ښځینه کرکټ لوبډلې د پوهاوي، روزنې او سیالیو لپاره د پیسو مصرف پیل کړ او د لومړي ځل لپاره دې لوبغاړو ته مرکزي قراردادونه ورکړل شول، چې له دې وروسته به د دوی په نورو برخو هم لوړ لګښتونه راشي. همدارنګه د معلوماتي ټیکنالوژۍ څانګه اوس مهال د سیستم په پراختیا کار کوي، په داسې حال کې چې د بورډ د مدیره هیئت له فعالیتونو هم ملاتړ کوي.



د کرکټ لوبو لګښتونو سره د اداري لګښتونو تحلیل

د کرکټ لوبو، روزنې، توکو او تجهیزاتو، کمپونو، پیښو، سیالیو، پروډکشن، کوربتوب او د کرکټ د فعالیتونو لګښتونه د کرکټ لوبو لګښت سره نغښتل کیږي او له نیکه مرغه دا برخه د ټول لګښت ۷۵٪ سلنه برخه نیسي. د نورو جزیاتو لپاره د لګښتونو ویش ته یو نظر کو. ټول غیر مستقیم لګښتونه او ملاتړ د اداري لګښتونو په توګه ګڼل کیږي او په مناسب ډول مناسب ښکاري. سربېره پردې د افغانستان کرکټ بورډ اداره هېڅکله هم د پیسو(بودیجې) له کمښت سره نه ده مخ شوې او اوس مهال د کرکټ بورډ د سیستم په وده کار روان دی؛ ترڅو د کرکټ بورډ ډیری چارې انلاین ته بدلون وکړي. د افغانستان کرکټ بورډ په میاشتنۍ بڼه د اداري رهبرۍ سره په اړیکه Cash count, Bank / Cash) reconciliation, Balance Sheet & PL, Tracking on Advances, A/P, A/R and Fund Accountability Statement generated from (Accounting System راپور ورکوي. همداډول د افغانستان کرکټ بورډ اداره کورنی کنټرول هم ترسره کوي؛ په کوم کې چې هره پیښه څېړل کیږي، ترڅو د لازمو لارښوونو سره سم په مناسب او ښه ډول مجاز، تصویب او ملاتړ شي.



د مـــــالي ځـــانګه

تولې کورنۍ معملې ترخو د احتمالي خطر، سرغړونې، بې نظمۍ یا د درغلیو نښو څخه لرې او اوسې کورنۍ پلټونکې ته لېږل کېږي. همدارنګه بهرنۍ پلټونکې هم د کلنۍ پلټنې لپاره ګمارل شوې ترخو د هرې مسلې څېلواکې پلټنې ترسره کړي. د افغانستان کرکټ بورډ اداره درې میاشتنۍ راپورونه او پلټل شوی کلنۍ مالي راپور د کرکټ نړیوالې شورا او تولو اړوندو شریکانو سره شریکوي.





خنډونه

په ۲۰۲۰م کال کې نړۍ له سترو ناخوالو سره مخ وه ځکه چې په دغه کال کې نړۍ یوې داسې څپې ووهله چې هر څه یې اغېزمن کړل. دغه لویه څپه د کوئید-۱۹ ویروسي ناروغي وه، چې په ټوله نړۍ کې یې ګڼې ستونزې را منځته کړې. دغې ناروغۍ د ژوند د نورو برخو ترڅنګ د کرکټ په لوبه هم منفي اغېز وکړه چې ورسره د افغانستان کرکټ بورډ اداره هم له دغه لوی افت څخه خوندي پاتې نه شوه. دغې ناروغۍ نه یوازې د کرکټ پروګرامونه وځپل بلکه په ټوله نړۍ کې یې په لوجستیکي، بازار موندنې او نورو مالي فعالیتونو باندې هم منفي اغېزې درلودې. د افغانستان کرکټ بورډ اداره د ۲۰۲۰م کال په لړ کې له ګڼو ستونزو سره مخ شوه چې د ځینو یادونه یې په لاندې ډول کوؤ:

د کرونايي دورې محدودیتونه

لکه څنګه مو چې پورته یادونه وکړه، د کوئیډ-۱۹ ویروسي ناروغي د ۲۰۲۰م کال د مارچ میاشتې په لومړیو کې خپره شوه؛ نو د یادې ناروغۍ محدودیتونو د افغانستان کرکټ لپاره بې ساري خنډونه رامنځته کړل؛ په همدې اساس دغې ناروغۍ په ټوله کې د افغانستان کرکټ بورډ اداره او لوبغاړي د یوه نامعلوم راتلوونکی مخې ته ودرول. په هېواد کې اړوند مسؤلینو او مقاماتو د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره ګڼ شمېر محدودیتونه وضع کړل؛ په دې کار سره په ټوله کې ورزشي فعالیتونه ودرېدل. د دې ترڅنګ د کرونا ویروس زیاتې پراختیا د هېواد په مالي او اقتصادي حالت هم خپلې اغېزې درلودې او یادې ناروغۍ د عوامو په عایداتو سرچینو هم بدې اغېزې وکړې، د دې ترڅنګ خصوصي شرکتونو او کمپنیو هم له مالي اړخه ډېره صدمه ولیدله. همدا لامل و چې د افغانستان کرکټ بورډ اداري لپاره د مالي ملاتړ موندلو په برخه کې فرصتونه محدود شول.

د عمومي مالي ملاتړ نه شتون

په افغانستان کې د بازار د ترینګلو حالاتو په اساس په ۲۰۲۰م کال کې د افغانستان کرکټ بورډ اداره د یو عمومي مالي ملاتړ په پیدا کولو کې پاتې راغله او د کرونا ویروس زیاتوالي حالات بدتر کړل، په سوداګرۍ یې ناوړه اغېزه وکړه او هېواد یې له مالي بحران سره مخ کړ. په همدې حال کې هم د افغانستان کرکټ بورډ اداري مدیره هیئت سترو سوداګریزو بنسټونو سره په دوامداره خبرو بوخت دی، چې و توانېږي د اوږد مهال لپاره عمومي مالي ملاتړ ترلاسه کړي او ګټه ترې واخلي.

د افغانستان په کوربتوب سیالیو لپاره د لوجستیک مدیریت

د ۲۰۲۰م کال په لړ کې د دوامداره خنډونو، ستونزو او په ټوله نړۍ کې د کوئید-۱۹ ویروسي ناروغۍ د مخنیوي په موخه وضع شویو بندیزونو او محدودیتونو له امله د افغانستان په کوربتوب پلان شوې لوبلړۍ لغوه او یا هم وځنډول شوې، چې له مله یې د افغانستان کرکټ بورډ د عملیاتي څانګې د نویو پلانونو جوړولو او د نویو نېټو په ټاکلو ترڅنګ د تدارکاتي مدیریت په برخه کې هم ستونزې رامنځته کړې. ځینې داسې وختونه هم راغلل چې د افغانستان کرکټ بورډ اداره په خپل کوربتوب یا نورو سیالیو لپاره د ویزو او د پروازونو له ستونزو سره هم مخ شوه چې ورسره د لوژستیک پروسه هم سسته شوې وه.

د پلان جوړونې کمزوری میکانیزم

د افغانستان کرکټ بورډ اداره د پلان او پالیسۍ جوړونې له کمزورتیا سره مخ وه، چې په ۲۰۲۰م کال کې په یاده اداره کې د پلان جوړونې میکانیزم د ځواکمن کېدو لپاره هڅې پیل شوې، د ټولو څانګو پالیسۍ د بیا کتنې لاندې ونیول شوې، اړین بدلونونه پکې رامنځته شول او شته ستونزې او خنډونه ترې له منځه یوړل شول.

د لوبغاړو د غوراوي په برخه کې اصلاحات

د افغانستان کرکټ بورډ اداري لپاره د بېلابېلو ملي لوبډلو د لوبغاړو ټاکنه تل لوی خنډ پاتې شوی دی. له نیکه مرغه دغه ستونزې او خنډونه د تکړه او تجربه لرونکو لوبغاړو د زیاتوالي له امله رامنځته کېدې چې یاده پروسه به یې اوږده او پېچلې کوله. په همدې اساس د «اتلیټ منیجمنټ سیسټم» په بل عبارت د لوبغاړو د مدیریت سیستم رامنځته شو چې پکې به د ټولو لوبغاړو د لوبو ریکارډ ساتل کېږي او د لوبغاړو په ټاکنه کې بشپړ شفافیت او آسانتیا رامنځته کړي.

راتلونکي کړنې

د افغانستان د کرکټ بورډ اداره یو له کار او بوختیاوو ډک کال تر مخه لري؛ چې په دغه کال کې د ملي لوبډلې لپاره ډېرې نړیوالې لوبې برابرې شوې دي، په داسې حال کې چې راتلوونکې کال د کورني کرکټ په چوکاټ کې هم بېلابېلې سیالۍ د استعدادونو د پیدا کولو او د استعدادونو د روزنې لپاره په لاره اچول کېږي. لکه څنګه چې پانګه اچوونکي، سوداګر او شرکتونه د کرونا ویروس له رامنځته شوي بحران څخه ځان را وباسي؛ نو په همدې اساس د کرکټ سره د همکارۍ فرصتونه زیاتېږي نو د افغانستان کرکټ بورډ به هم و کولی چې شي ګڼ مالي ملاتړ کوونکي را جلب کړي. همدا ډول د افغانستان کرکټ بورډ په ۲۰۲۰م کال کې د لوجستیک برخه کې له ګڼو ستونزو سره مخ شو، چې همدې ننګونواو ستونزو اداري ته لار هواره کړه تر څو د نړیوالو لوبلړیو د کوربتوب لپاره نور او نوي ځآیونه وګوري. د متحده عربي اماراتو او عمان سربېره د هند شتون د افغانستان کرکټ بورډ اداري ته دا آپشن ورکوي تر څو له یادو هېوادونو څخه غوره او مناسب یو وټاکي. همدارنګه د افغانستان کرکټ بورډ اداري د دې لپاره چې د ملي لوبډلې د لوبغاړو غوراوي پروسه ډاډمنه او له هر جنجال څخه پاکه وي او په اساس یې د لوبغاړو ټاکنه د وړتیا په اساس او له هرې لانجې څخه پاکه وي او همدارنګه حساب ورکونه او شفافیت رامنځته شي؛ نو ډېر ژر به د لوبغاړو د مدیریت سیستم (AMS) په لاره واچوي. دا سیستم به د وړ لوبغاړو لپاره ښه ملاتړ وي او کله چې ملي لوبډلې ته لوبغاړي ټاکل کېږي نو د دوی کارکردګي، نظم او فیټنس به د دې سیستم لخوا په پام کې نیول کېږي. یاد سیستم به د لوبغاړو د ټاکنې په برخه کې لومړني معلومات وړاندې کوي، تر څو د ملي لوبډلو لوبغاړو د غوراوي په پروسې ته لا زیات شفافیت ور وبخښي. د کرکټ نړیوالې شورا د ۵۰ اوریزه غوره لیګ سیالي چې تمه ده نږدې راتلوونکې کې پیل شي، د ملي لوبډلې لپاره د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو ته د لارموندنې په موخه یو مهم فکټور دی. د یادو سیالیو لپاره به زمونږ چمتوالی هم ژر پیل شي، په داسې حال کې چې د کریکټ نړۍ په خوندي چاپېریال کې د لوبو له نویو نورمونو سره آشنا کیږي نو د افغانستان کرکټ بورډ به هم یادو سیالیو لپاره د ملي لوبډلې د هر اړخیز چمتوالي ډاډ ورکوي. خلاصه دا چې، د ۲۰۲۰م کال ستونزې پای ته رسېدلې دي او د افغانستان کرکټ بورډ ادره د تل په څېر خوشبینه ده او ډاډ ورکوي چې د افغانستان کرکټ د روغ مسیر په لوري روان دی.